محسن

د قرآني زده کړو او پوهنې لړۍ

۱۰۲

# محسن تفسیر

په پښتو

## ۱۰۲ ــ د «تکاثر» سورت

ژباړه او څېړنه :

احمد حسین عنایت

د تکاثر سورت تشريح
ژباړه او څېړنه:
احمد حسين عنايت

بسم الله الرحمن الرحيم
د لوراند او لورين الله په نامه
سورةالتكاثر

# د تکاثر سورت (۱۰۲)

د «تکاثر» سورت مکي دی (۸) آيتونه يوه رکوع لري په تلاوت کې (۱۰۲) په نزول کې (۱۶) سورت دی د «الکوثر» له سورت څخه وروسته نازل شوی دی.

ډيری له مفسرينو ددې سورت په مکي والي اتفاق لري، پر دې سربېره د سورت له مضمون او بيان له اندازه په څرګنده توګه بريښي چې دا سورت مکي دی.

**له مخکيني سورت سره يې اړيکه:**

د تلاوت په لړ کې له دې څخه مخکينی سورت «قارعه» دی د قارعه سورت له ټکوونکې پېښې څخه خبره کوي؛ چې ځمکه له يوې ځواکمنې چاودنې سره د ډانډس شوو وړيو په څېر، اړوي او خلک په هوا کې د خپرو پتنګانو [پرپره کو] په څېر د خپل سرليک پر لور رهي کوي. دا ډول اووښتون د قيامت په درشل کې د داسې پېراو پيل دی چې هر يو نفس د هغه د موازينو او انډولونو د دروندوالي او سپکوالي پر بنسټ، غوره ژوند [عيشة راضيه]، يا د اور کندې [هاويه ... نار حاميه] ته رسېږي. د «تکاثر» په سورت کې د داسې ګواښ او ډاروونکي خطر سره سره د انسان دائم العمر [د ژوند په اوږدو کې] بوختيا، د مرګ تر دمه، د دنيا د مال او متاع او پانګې د زياتولو، تروړلو او راټولولو لپاره څرګندوي. دا راز انديښناکه او د تشويش وړ راتلونکي د انسان په انتظار کې ده او هغه بېغمه او آسوده د داسې مادي او دنيايي توکو په راټولو بوخت دی چې اصل يې له ځمکې او آسمان سره د نشت او له منځه تګ سره مخامخ دی، په خوړ کې کې مانۍ جوړوي چې بيخ ايستونکی او ويجاړونکی سيلاو ورته په پټنځای کې په څاو دی او پرې راخوشې دی. که کوم خطر د انسان دنيايي ژوند وګواښي، له خوب او خوراکه يې غورځوي او له ويرې او انديښنې په هوسا ساه نه شي اخېستی. که سيلاو او يا زلزله هغه وګواښي او يا که د دښمن له يرغل او قتل او لوټمار څخه يې خبر کړي او که له يوه اټل مرګ او وېجاړۍ ورته خبرتيا ورکړي راحت او سوکالي هيروي او امن ځای ته تر رسېدو پورې عذاب کاږي.

په دې ترتيب د قارعه سورت له يوه ستر خطره انذار او خبرتيا ورکوي او د تکاثر سورت ددغه خطر پر وړاندې له يوه اوږده غفلته او د مرګ تر دمه له دغه خطره د بوختيا په اړه خبره کوي .... لکه څنګه چې له دواړو څخه مخکې د دوو سورتونو زلزال او عاديات تر منځ اړيکه هم لـه همـدې مخـې ده، د زلـزال سورت د قيامت له سترې زلزلې خبره کوي، چې د ځمکې اثقال او درانده څيزونه خارجوي او ډارېدلی هک پک انسانانان له ګورونو څخه د هغوی د عملونو د ننداړې پر لور رهي کوي، او د عاديات سورت

د دنيايي مسائلو او کټو په اړه د انسان د تکړه والي، زړورتيا او د چست او چالاکوالي، او د اخروي چارو په اړه د هغه له پخوالي، لټۍ او بې پروايي څخه خبره کوي.

ددغو څلورو سورتونو څنګ په څنګ ځای پر ځای کېدل چې يو تر بل اړونده منسجمه ټولګه تشکيلوي، د انسان اوسنۍ او راتلونکي وضعه هغه ته په څرګنده توګه وړاندې کوي. ګواکې له خپل آخرته د انسان د غفلت لامل، لنډ اندي، لنډ ليد او له راتلونکي څخه د هغه جهل دی. انسان له هاغه څيز څخه د خطر احساس کوي چې هغه يې لېدلی يا يې لمس کړی وي يا نورو حس کړی وي او ده ته يې ويلي وي، له هاغه خطره چې تجربه کړی يې نه وي يا يې د پېښېدو مهال لېرې وي، نه ويرېږي، که څه هم تر ټولو پېښو او خطرو ستر وي، پر دې بنا هر څومره چې له يوه خطره «علم» او آګاهي زياته وي پر هماغه نسبت وېره او ډار پرې ورزياتېږي. پر دې بنسټ په هاغو سترو خطرونو پسې چې په قارعه سورت کې مطرح کېږي، د تکاثر سورت په دويمه نيمايي کې د بشر پر «علمي» پوړيو چې له دنيايي نسبي علم څخه تر علم اليقين او عين اليقين پورې رسېږي پر جهنم د باور کولو لپاره ټينګار کوي: كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ. ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ. كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ. لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ. ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ. ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ.

که په مکي لنډو سورتونو، لکه قارعه او تکاثر، يا زلزال او عاديات کې،د انسان اوسنی او راتلونکی وضعيت په بېلو بېلو سورتونو کې په خپلواکه توګه بيانوي، په مدني سورتونو کې په تفصيلي بڼه دا مهالونه او ډګرونه يو ځای، يو د بل په څنګ کې تر څېړنې لاندې نيسي. له هغې جملې د انبياء سورت درې لومړني آيتونه د قيامت نژدې واقع کېدل او د نهائي حساب ورځ د انسان له مخ اړوونکي غفلت او قلبي بوختيا سره څرګندوي په داسې ډول چې د دوو سورتونو د مضمون تفصيل او تشريح ګڼل کېږي. په دې آيتونو کې له يولورې د حساب نژدېوالی څرګندوي او له بل لورې د انسان لټي او مخ اړونه او په لهو و لعب د هغه بوختېدنه څرګندوي.
اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ مُعْرِضُونَ. مَا يَأْتِيهِمْ مِنْ ذِكْرٍ مِنْ رَبِّهِمْ مُحْدَثٍ إِلَّا اسْتَمَعُوهُ وَهُمْ يَلْعَبُونَ. لَاهِيَةً قُلُوبُهُمْ وَأَسَرُّوا النَّجْوَى الَّذِينَ ظَلَمُوا هَلْ هَذَا إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ أَفَتَأْتُونَ السِّحْرَ وَأَنْتُمْ تُبْصِرُونَ. [انبياء ۱ (۲۱:۱)تر۳] د خلکو حساب [ته د رسېدو ورځ پرله پسې] نژدې کېږي، په داسې حال کې چې دوی په غفلت کې ترې مخ اړوونکي دي! [چې د پېښې په عظمت له ناخبرۍ سرچينه نيسي]. دوی ته د خپل پالونکي رب له لورې هيڅ نوی ذکر راو نه رسېد، مګر دا چې دوی د لوبو او ټوکو په حال کې [له دنيائي بوختياو سره] هغه واورېد [= په جدي او د پند منلو په توګه ورسره مخامخ نه شول]. [ولې دا نوی پيغام ناليدلی نيسي؟ ځکه چې] د هغوی زړونه [په عبثو چټياتو] بوخت دي؛ ظالمان [او تېرې کوونکي] په پټه کې [د مؤمنانو په غوږونو کې] پسپسک کوي چې آيا [دا سړی – محمد] له دې پرته دی چې ستاسو په څېر بشر دی؟ آيا په داسې حال کې چې وينئ، سِحر [= هاغه چې تلاوت کوي] ته مخه کوئ؟ .

## د سورت د مضمونونو محور:

**په تکاثر بوختېدل**: ددې سورت نوم چې د هغه د مطالبو محور تشکيلوي، د هغه د موردونو او مصاديقو په شا او خوا کې يې ډېر بحثونه پارولي دي. تر هاغې چې د تکاثر لمن يې حتا تر علم او اخلاقو هم غځولې ده او هغوی ته ډېره پاملرنه يې غندلې ده. خو په قرآن کې په يوازيني بل آيت کې چې د «تکاثر» کليمه کارول شوې ده، د هغه بريدونه يې په دوو ډګرونو «مال او اولاد» کې چې له (قدرت او ثروت) څخه يو تعبير دی محدود کړي دي: د جاهليت په زمانه کې په اولاد کې تکاثر چې په يرغل او هجوم کې د کورنۍ او قبيلې د ځواک د زياتېدو په موخه دی او له دې نظره يې ډېر زيات اهميت درلودلی دی.

«اعْلَمُوا أَنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ ...»
[حديد۲۰ (۵۷:۲۰)] پوه شئ چې په حقيقت کې د دنيا ژوند له لوبې، بوختيا [ساتېرۍ]، سينګار، خپلمنځيو وياړنو او په شتمنيو او اولادونو کې له ډېروالي [= قدرت او ځواک] پرته نور څه نه دي.
او تصادفاً د «لهو» [بوختيا او مشغولېدلو] کليمه هم عيناً د مال او اولاد په اړه کارول شوېده:
«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ».
[منافقون ۹ (۶۳:۹)] ای هاغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی داسې نه چې په مال او اولاد بوختېدل تاسو د خدای له ياده وباسي او هر څوک چې داسې وکړي نو هماغوی له زيانکارانو دي.

په دې ترتيب د «الهيکم التکاثر» آيت هر دواړه کليمې د مال او اولاد دوو پراخو ډګرونو ته پاملرنه لري. مال په عمومي ډول په مادي توګه زړه پورې او په مادي تړاوونو او دلچسپيو پورې اړه لري، که هغه منقول وي او يا غير منقول وي [لکه پيسې، طلا او نقره، يا کور، جايداد، بڼونه او کرهنيزه ځمکه او نور ...]، او اولاد په عاطفي او احساسي زړه تړنې او د بوډاتوب، زهيروالي او ناتوانۍ په پَير کې امان ورکوونکي ملاتړ ته رواني اړتيا ده. معمولاً يې په قرآن کې دا دوه لاملونه د دنيا پالو، تکيه ځايونه معرفي کړي دي چې د هغوی په مرسته يې خپلې دنيا ته رونق او سېنګار ورکړی دی.
په دې سورت کې د انسان يوې خطرناکې ناروغۍ ته پاملرنه شوې ده چې انسان په خپل ټول ژوند کې پرې اخته او مصروف دی او د انسان همدغه ناسمي او ناروغي د انسانې ټولنې د ټولو فتنو، شخړو، جګړو، وينې بهولو، پر نورو د تيري، کبر، او ذلت جرړه او تومنه ګڼل کيږي. که پاملرنه وکړو همدغه ډېرغوښتنې او زيات لاسته راوړنې او ددوی په اړه يو تر بله سيالي او رقابت، چې پر مادي، شخصي او د ځان غوښتنو پر بنسټ ټيکاو دي او الهي جهت نلري، د انسانانو او انساني ټولنو تر منځ د شخړو، بدمرغيو، ناسميو، زور زياتي او د نورو پر حقوقو د تيري لامل کيږي. چې تېری کوونکي پخپله هم ترې په امان کې نه پاتيږي.

نو د تکاثر په سورت کې يې خلک د دنيا پالنې، د بدو پايلو په اړه ګواښلي او خبر کړي دي، چې انسان د مرګ تر دمه له زيات نه زيات د مال او شتمنيو، دنياوي ګټو او خوندونو، ځواک او واک په لاسته راوړلو کې يو تر بله مسابقه او رقابت کوي او کوښښ کوي تر نورو مخکښ اوسي او تر نورو زيات ولري او تل د خپلو شتمنيو، ځواک او واک پر وياړنو لګيا او بوخت دي. دوی يې ګواښلي چې له دې اوچت د کوم څيز

په ذکر او فکر کې نه دي او د هغوی په بدو پایلو یې تنبیه کړې دي او وروسته یې خلکو ته ویلي دي چې دا نعمتونه چې ته یې پرته له اندازې په هڅو او خواریو تروړې او راټولوې او حتا د نورو پر حقوقو تېری هم کوې او هم ټول هاغه نعمتونه چې الله پر تاسو لوروللي او تاسو د هغوی په توسه دا ټول کارونه سر ته رسوئ، دا یوازې نعمتونه نه بلکې ستا د ازمایښت لپاره وسیله او سامان هم دی، ددې هر یو نعمت په اړه به ښېل ښېل له تاسو پوښتنه کیږي، او د هر یوه په اړه به په آخرت کې ځواب ورکوئ.

## د سورت متن او د لغتونو ترجمه:

| | |
|---|---|
| بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ<br>أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ ﴿١﴾ حَتَّى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ﴿٢﴾ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣﴾ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٤﴾ كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ ﴿٥﴾ لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ ﴿٦﴾ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ ﴿٧﴾ ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ ﴿٨﴾ | أَلْهَا =بوخت کړئ، غافل کړئ – أَلْهَاكُمُ = تاسو یې بوخت کړي یاست، تاسو یې د خدای له یاده غافل کړي یاست، د خدای له یاده یې ستاسو مخنیوی کړی – التَّكَاثُرُ = ډېر غوښتنه، په ډېر غوښتنه کې کثرت او مسابقه، رقابت، په دنیایي نعمتونو کې د زیاتوالي لپاره پرله پسې هڅه تر دې بریده چې همدا یې هدف شي او یکې ډوب شي، د مال او اولاد پر زیاتوالي ویاړنه – حَتَّى = تر هاغې چې – زُرْتُمُ = زیارت مو وکړ، ومو لید، لیدنه مو وکړه، ورسېدئ – الْمَقَابِرَ = قبرونه – كَلَّا =نه هیڅکله، دا سې باید نه وي، داسې وړ نه دی – سَوْفَ = ډېر ژر – ثُمَّ = بیا، وروسې، وروسته – تَعْلَمُونَ = تاسو پوهیږئ – لَوْ تَعْلَمُونَ = که تاسو پوهېدئ ـ عِلْمَ الْيَقِينِ = یقیني پوهه – لَتَرَوُنَّ = هرو مرو وینئ، پرته له شکه وینئ ـ الْجَحِيمَ = دوزخ – لَتَرَوُنَّهَا = خامخا هرومرو به تاسو ووینئ ـ عَيْنَ الْيَقِينِ = یقیني لید، د پوهې او آګاهۍ سترګې، د یقین سترګې ـ لَتُسْأَلُنَّ = هرو مرو پوښتل کیږي ـ يَوْمَئِذٍ = په هاغې ورځ کې ـ عَنِ النَّعِيمِ = [د دنیا] له [بې شمېره] نعمتونو ، د نعمتونو په اړه ـ النَّعِيمِ = نعمتونه، هر هغه څه چې په دنیا کې د لذت اخیستلو وسیله ده. |

## بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

## أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ ﴿١﴾

[په شتمنیو او ځواک کې] ډېر غوښتنو [رقابت او ویاړنو] تاسو بوخت [او غافل] کړي یاست.(۱)

## حَتَّى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ﴿٢﴾

[د مرګ تر دمه] تر هغې چې تاسو قبرونو ته ورشئ (۲) [= د ژوند تر پایه او تر خاورو لاندې ښخېدلو پورې]

| أَلْهَاكُمُ | التَّكَاثُرُ | حَتَّى | زُرْتُمُ | الْمَقَابِرَ |
|---|---|---|---|---|
| بوخت [او غافل] کړي یاست تاسو | ډېر غوښتنو [او رقابت] | تر هغې | چې ورشئ تاسو | قبرونو [ته] |

ددې سورت نوم، «تکاثر»، د تفاعل له بابه، د کثرة له ريښې دی. د تفاعل باب پر يوې چارې چې پر دوو لورو ټېکاو ده دلالت کوي، دوه طرفه ده او يا په اصطلاح دوه د ورکړې راکړې يوه معامله ده. يعنې يو ډول رقابت څرګندوي؛ لکه د نظر «تبادل». د نظر په تبادل کې تاسو هم يو نظر لرئ او زه هم يو نظر لرم، يو تر بله يې رد او بدل کوو يا يو تر بله رقابت کوو، بحث کوو، البته په مسالمت وزمه بڼه. يا همدا رنګه په تنازع کې، دوه يا څو تنه نزاع کوي. ډېرې بېلګې کېدی شي راوړلې شي. مثلاً «تقابل» يعنې دوه کسان يا دوه څيزونه چې يو د بل په مقابل کې واقع کېږي؛ يا «تکابر» چې يو پر بل د اوچتوالي او برترۍ غوښتنه ده او هر هاغه څوک چې غواړي سترتر او «کبير»تر، له نورو اوسي. «تکاثر» هم يعنې د يو څيز د کثيرکولو او زياتولو پر سر د افرادو تر منځ رقابت. د زياتونې په پار هڅه کول. نو، تکاثر ذاتي چار نه دی، اکتسابي عمل دی او له «کوثر» سره يې توپير په همدې کې دی چې کوثر يو ذاتي طبيعي چار دی او له زړه پخپله راخوټېږي؛ خو «تکاثر» له هڅې او کوښښ سره زياتول دي. د څه څيز زياتول؟ هر هغه څيز چې زياتول يې د انسان لپاره خوندور او لذت ښوونکي اوسي: مال، ثروت او شتمني، املاک او جايداد، بانکي حساب، پوړ او ځايګی، پُست او مقام، او هر بل څيز حتا علم هم چې موخه ترې يوازې مشهورېدل او لوړ پوړي پوهنتيز مقام ته پورته کېدل او لکه د پوهنتون رئيس کېدل يا د خلکو تر منځ مخور کېدل او مشهورېدل وي؛ حتا هنر؛ لنډه دا چې هر څيز چې ډېرښت مني او د انسان د ځواک د څرګندونې په بهير کې واقع شي. اوس سمدلاسه له ښو او بدو سره يې کوم کار نلرو. نو، «تکاثر» د زياتوالي او کثرت ښنلو په پار، له رقابت سره مل يوه هڅه ده، په هر ډګر او زمينه کې چې د کېدلو وړ وي. دا ددې سورت نوم دی.

**أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ.** «اَلها» د «لهو» له مادې د افعال باب دی، چې اصلي معنا يې غفلت دی، خو په عربي ژبه کې هر هغه شغل او دندې ته ويل کيږي چې سړی پکې دومره بوخت او ورک شي چې له نورو مهمو چارو غافل شي، نو لهو هغه چار دی چې موخه نه لري او سړی له مهمو کارونو باسي. کله چې د «أَلْهَاكُمُ» لفظ ويل کيږي نو مطلب يې دادی چې کومې لهو، ته په خپل ځان کې دومره بوخت کړی يې چې د کوم بل داسې يو څيز په فکر کې نه يې، چې تر دې مهمتر دی. ددې «لهو» په فکر کې داسې ډوب او ورک يې چې له بل هر څيزه يې ايستلی يې.

نو «لهو» د منع کوونکي په معنا دی. البته موږ دوه ډوله منع کوونکي لرو؛ يوډول عملي منع کوونکي دي، مثلاً يو انسان چې پر يوې لارې رهي وي، يو څوک راشي او د هغه مخه ونيسي او له تګه يې منعه کړي. چې دې ته «لهو» نه وايي. «لهو» فکري او روحي مخنبوی دی؛ يعنې د بوختولو لاملونه چې انسان له خپل مقصده منع کړي. ددې په څېر دی چې يو انسان غواړي يو ځای ته ولاړ شي، يوه موخه او مقصد لري چې بايد ورشي، خو وروسته يې سترګې پر يوه منظره ولګي، سر يې د هغې پر ننداره ګرم شي، د هغې پر ننداره بوخت شي، يا د يوې خبرې په اورېدو يې سر دومره ګرم شي، چې يو مهال چې را په خود شي،ويني چې له خپلې موخې او مقصده پاتې شوی دی، هيڅ يې هم مخه نه ده نيولې خو له خپله دننه يې مخنبوی شوی دی او له خپل مقصده پاتې شوی دی.

که يو بوختوونکی کار چې خصلت يې داسې دی چې يوازې د ذهن بوختوونکی دی او بس، او اصلاً له دې پرته کوم خاصيت او خصلت نلري دا کار «لهو» دی. دې تعريف ته که سمه پاملرنه وکړئ نو هاغه مهال به پوهېږئ چې اسلام ولې له لهو سره مطلقاً مبارزه کوي. هغه چارې چې خاصيت يې يوازې او يوازې بوختوول دي؛ که خلک ورته يو څه ښه والی فرضوي هغه دادی چې د لږ مهال لپاره هغوی بوختوي او له جدي مسألو او چارو يې اخوا کوي. ډېری بوختياوې چې د خلکو په منځ کې [په ځانګړې توګه د انټرنيټ تر پيدا کېدو وروسته] پيدا شوي دي، يوازې د همدې لپاره دي. اوس که دا د وګړو لخوا پر نورو وګړو تپل کېږي او يا له بده مرغه پخپله يې غوره کوي. معمولاً د نشه-ئي توکو غوره کول د همدې لپاره دي. ډېری خلک د همدې لپاره د مسکراتو لور ته ځي چې مسکرات، دوی له جدي او بنسټيزو فکرونو اخوا کړي، که څه هم د لنډ مهال لپاره وي؛ او نشه ئي توکي په ټوليزه توګه له همدې ډلې دي. «أَلْهَاكُمُ» يعنې ستاسو مخنبوی يې کړی په داسې ډول چې پر ځان يې بوخت کړي ياست؛ څه څيز؟ «تَكَاثُرُ». دلته دا نه وايي چې قمار يا شرابو يا موسيقۍ يا د ځوانانو کلوبونو تاسو بوخت کړي ياست، بلکې فرمايي تکاثر تاسو بوخت کړي ياست. تکاثر يعنې ډېر غوښتنه او بلکې په ډېر غوښتنه کې رقابت او مسابقه. نو تکاثر له کثرت څخه دی معنا يې داده چې سړی له هر څه زيات نه زيات د ډېرو څيزونو په کثرت د لاسته راوړلو په هڅه کې وي او تر نورو خلکو د ډېرو څيزونو د لاسته راوړلو لپاره په مسابقه او رقابت کې وي او پر نورو وياړ پلورنه وکړي چې له هغوی اوچت او د ډېرو څيزونو څښتن دی نو أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ. يعنې تکاثر، ته دومره بوخت کړی يې چې له نورو مهمو څيزونو څخه يې غافل کړی يې. د

«ألهاكم التكاثر» په فقره کې دا تصريح نه ده شوې چې د کوم څيز تکاثر او يا له کوم څيزه يې لهو او غفلت ته اشاره کړېده، په الهاکم کې دا هم واضح نه ده چې مخاطب يې څوک دی نو د تصريح د نه موجوديت له لامله ددې الفاظو اطلاق پر پراخو مفهومونو کيږي، نو په دې آيت کې د تکاثر معنا محدوده نه پاتيږي بلکې د دنيا پر ټولو څيزونو، ګټو او فايدو، د ژوند د خوند د ټولو توکو او سامانونو، د واک او ځواک د ټولو پوړونو د حاصلولو هڅه کول او د هغوی په حاصلولو کې له نورو مخکې کېدل او يو پر بل د وياړ ځرګندولو ټول ډولونه، پوړونه او پراوونه رانغاړي. چې البته دا ټول په افرادو او ټولنو او هيوادونو کې د تطبيق وړدي. همدا راز په أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ. کې ددې صراحت هم نشته، تکاثر چې خلک يې په خپل ځان کې بوخت کړي له څه څيزه يې غافل کړي دي نو له همدې لامله د الهاکم په مفهوم کې هم ستر پراخوالی موندل کيږي، معنا يې داده چې پر دې «تکاثر» بوختېدلو، خلک له هر هاغه څه غافل کړي دي چې ددې په نسبت مهمتر دي. هغوی له خدايه غافل شوي دي، له انجام او پايلو او عاقبته غافل شوي دي، له اخلاقي بريدونو او اخلاقي ذمه واريو غافل شوي دي، د حقدارانو له حقوقو او د حقوقو د ادا کولو په معامله کې غافل شوي دي، هغوی د ژوند د معيار د لوړولو په فکر کې دي خو په دې فکر کې نه دي چې د انسانيت معيار څومره مخ په ځوړ رهي دی، تر ټولو زياته شتمني ورته پکار ده خو په دې فکر کې نه دي چې دا شتمني څنګه لاسته راوړي او څنګه يې مصرف کړي، د عيش او عشرت او جسماني لذت او خوند سامان او توکي ډېر غواړي، په دې هوسونو کې ډېر ډوب شوي دي خو له دې غافل دي چې ددې روشونو پايله او انجام به څه وي. لنډه دا چې د تکاثر ډېرې بڼې دي، کومو چې وګړي او ولسونه او نړيوال يې دومره په خپل ځان کې بوخت او مشغول کړي دي چې له دنيوي ګټو او خوندونو پرته او پورته د بل هيز څيز په هوښ او فکر کې نه دي.

قرآن وايي تاسو ژوند په پنځو پَړُونو کې تېروئ: [لعب، لهو، زينت، تفاخر او تکاثر]. «إِنَّمَا الحَيَاةُ الدُّنْيَا» د دنيا ژوند څه څيز دی؟ «لَعِبٌ وَلَهْوٌ» [حديد۲۰ (۵۷:۲۰)] لومړی د ماشومتوب پَير دی چې يوازې په «لعب»، يعنې لوبو تيريږي؛ د ماشوم غړي او هډونه بايد ځواکمن شي نو پر دې بنا لوبو ته اړتيا لري. نو ځکه تر ټولو لومړی لعب دی، لوبې دي.

د ماشوم سن چې لږ پورته لاړشي، د څلورو پنځو کلونو تر بريده، چې د ماشوم شخصيت او ذهن لږ لږ په بڼې نېولو پيل کوی، نو لوبې يې نورې يوازې فيزيکي جنبه نه لري، ذهني او فکري جنبه هم لري؛ بايد فکر او اند يې پرانيزي او پراخ کړي. پر دې بنا چې د لوبو سامان

چې هر څيز وي، ګوډۍ يا موټر يا کوم ماشين او وسمهال البته کامپيوټر هم، د ماشوم ذهن بوختوي او هغه ورو ورو، لږ لږ، شوق او ذوق ته مخه کوي چې البته کومه موخه پکې نشته او يوازې شوقي دي. د مولوي په وينا:

«کو دکان هر چند در بازي خوشند شب کسان شان سوی خانه ميکشند»

ماشومان چې کله په لوبو کې بوخت شي دومره زيات په لوبو کې تـاوده شـي چې حتـا د خپـل خوراک او څښاک په فکر کې هم نه دي. مور يې بايد په زوره ورته غږ وکړي چې راشه يـو څه وخوره بيا لوبې وکړه. تر شپې پورې په لوبـو بوخـت وي د شـپې چـې هـوا تيـاره شـي او دوی ستړي شي اړ کيږي چې مجبوراً لوبې پای تـه ورسـيږي، خپلـو کوښـو او خـولۍ پسـې ورځـي ويني چې نشته. دومره په لوبو کې تاوده شوي ول چې له ياده يـې وتلـي چـې کوښـې او خـولۍ هم لري او بايد هغه وساتي. يعنـې پـر لوبـو دا د بوختېـدلو خصـلت دومـره ځـواکمن دی چـې اصلاً له ياده يې وځي چې کوښې او خولۍ هم لري. يعنې ماشوم چې پر لوبو بـوختيږي جـدي مسألې يې له ياده وځي، نو لهو رواني او روحي مخنيوی دی نه جسمي او مادي.

دا پوړونه الله تعالی مقرر کړي دي. د ودې او رشد په سن کې بايد د ماشوم اند او فکر تل غورځنګ ولري، چې دا پَير «لهو» دی. لهو له جدی کارونو څخه د انسان مخنيوی کوی، خو د ماشوم لپاره لازم دی، ځکه چې له هغه څخه د جدي کارونو تمه نه شي کيدی. نو په يو ټاکلي سن کې «لهو» لازم او ښه کار دی. «إِنَّمَا الحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ» نو، لهو د ژوند دويم پړاو او چار دی او له «لعب» څخه وروسته دی. «وَ زِينَةٌ». دريم پړاو زينت او سينګار دی. انسان چې د بلوغ درشل ته ورسيږي، پاملرنه يې سر او مخ او اندام او ظاهري ښکلا او سينګار ته وي. له دې پړاوه چې پورته لاړشي يعنې څلورم پړاو «و تَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ» دی؛ چې د وياړ پلورنې او پوز ورکولو او په اصطلاح د ځان ښوونې او ټېم ورکولو پړاو دی. په دنده او کور او موټر او لنډه دا چې شتمني يې چې تړوړلي ده، که نارينه دی او يا که ښځينه. بيا يې چې سن نور پورته لاړ شي پنځم پړاو ته رسيږي چې «تکاثر» دی. وَتَكَاثُرٌ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ. [حديد ۲۰ (۵۷:۲۰)] په مال او اولاد کې زيات غوښتنه، چې «اولاد»، د «قدرت» او ځواک کنايه کښل کيږي. نو، «لهو»، چې يو ډول ذهني بوختيا ده او هيڅ هدف او موخه نه لري، دا سمه ده چې د ماشوم لپاره کومه ستونزه نه لري او بلکې لازم هم ده، خو ډېری له انسانانو، له بلوغ وروسته هم په همدې پړاو کې پاتې کيږي، لکه څنګه چې ځينې په هماغه خپله «اګو-AGO» کې پاتې کيږي. يعنې د وړوکتوب له حالت او پړاوه نه تېريږي، او روحاً

او عقلاً بلوغ ته نه رسیږي. داسې کسان «بالغ» شخصیت نه ته رسیږی او د وړوکتوب شخصیت په هغوی کې باقي پاتې کیږي، که څه هم عمر یې پنځوسو کلونو ته رسېدلی وي. پر دې بنا تکاثر ته مخه کول، لهو ته مخه کول او پرې بوختېدل دي، څکه چې ډېر غوښتنه انسان مشغولوي او د خدای له یاده یې وباسي. د تکاثر عامل بیروني دی. یعنې لکه څنګه چې مو وویل، ډېرغوښتنه مثلاً په مال، شتمنۍ او ټولنیز مقام او موقعیت یا دیني مقام او موقعیت کې ده. دده ټول فکر، اند، هاند او اندېښنه دا ده چې باید رئیس وي، یا دیني مخکښ او پېشوا وي، یا په علم او هنر کې برلاس ولري. د تکاثر پارونکی په واقعیت کې دننی دی، دا محرک زموږ په ختړه کې دی؛ زموږ په ذات کې دی، له انسان پرته بل هیڅ موجود د زیات غوښتنې او ډېرښت په هڅه کې نه دی، آیا تر اوسه مو لیدلي یا اوریدلي چې کوم حیوان مثلاً زمری، یا پړانګ حرمسرای جوړ کړي؟ یا لیدلي مو دي چې مثلاً څو ځالې او جونګړې جوړې کړي او هغوی ته د نورو حیواناتو له نژدېوالي څخه مخنبوی وکړي؟

خو انسان!!! دا کار کوي. د ډېرغوښتنې او بې نهایت غوښتنو خصلت یوازې د انسان له ځانګړو خصلتونو څخه دی، دا نو هر څیز کېدی شي چې پاملرنه ورته وکړي، او په ډېر غوښتنه او تکاثر یې بوخت او غافل شي. حتا په علم او هنر کې هم همدا ځانګړتیا لري. په هیڅ څیز کې د برېد ساتونکی او مراعت کوونکی نه دی او غواړي همداسې پر مخ ولاړ شي. او همدا ځای دی چې موخه او هدف اهمیت مومي چې آیا هدف، د انسان مادي انګېزې ټاکي یا نه.

انسان کولی شي خپل استعداد کانالیزه کړي؛ خپلې بې نهایتې غوښتنې په یوه خاص مسیر کې هدایت کړي. مثلاً نورو ته، او یا په بل عبارت د ټولنې لپاره د خیر رسولو پسې روان وي؛ او له بې نهایتو او ډېرو غوښتنو او پرمختګونو څخه خپله راتلونکي او آخرت جوړ کړي؛ په معنویاتو پسې رهي اوسي؛ په دې لورو او جهتونو کې ډېر غوښتنه څرګنده کړي او خپل روح او الهي شخصیّت ته پراختیا او وده ورکړي. او د خپل راتلونکي بهتر ژوند لپاره خپل ځان چمتو کړي چې بیا په آخرت او تلپاتي ژوند کې ددې آرمان ونکړي چې کاشکې د خپل ژوند لپاره مې یو څه کړي وای، او دې ته اړ نه شي چې، د قرآن په وینا: «يَقُولُ يَا لَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي» [فجر۲۴ (۸۹:۲۴)]. خو کوم مهال یې چې دا هدفونه نه درلودل، مخالف لور ته میل کوي. دا څکه چې لکه څنګه چې موږ پوهیږو او په قرآن کې ورته اشاره شوې

ده؛ دوه موخې او دوه هدفونه د یوه انسان په زړه کې نه ځائیږي – «مَّا جَعَلَ اللَّهُ لِرَجُلٍ مِّن قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ» [احزاب۴ (۳۳:۴)] خدای تعالی هیچا ته هم د هغه په سینه کې دوه زړونه نه دي ایښي – د انسان زړه یا د برترو حقیقتونو لور ته مخه کوي او خپلې بې نهایته غوښتنې، آخرت او راتلونکي ته متوجه کوي، او یا هم بل لور ته مخه کوي او په بدل لورکې پر مخ ځي او دنیا طلب کیږي.

الله تعالی انسان داسې پنځولی او دا یې د فطرت تقاضا ده چې د خپل کمال پر لور هڅه وکړي او په دې لار کې وده او رشد وکړي او خپل واقعیت او حقیقت زیات کړي، او د انسان بریالیتوب په دې کې دی چې خپل اصل واقعي ځان ته وده او رشد ورکړي؛ «قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكَّاهَا» [شمس ۹ (۹۱:۹)] د تزکیې اصل معنا وده ورکول، له ککړتیاو څخه له پاکوالي سره مل وده ورکول دي. او د ټولنې په اړه فرمايي: « هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ » [جمعه ۲ (۶۲:۲)] پیغمبر ددې لپاره راغلی چې ټولنه تزکیه کړي یعني رشد او وده ورکړي او کمال ته یې ورسوي.
خو انسان زیات غوښتنو او ډېرو لاسته راوړنو ته ترقي او کمال وايي او د خپل فطرت پر عکس یې، خپل ځان یې وده نکوي، ځکه چې د انسان وده او کمال پر الهي بنیادونو ټیکاو ده او که د انسان د هڅو او منډو ترړو بنسټ الهي نه وي، دا که په هره څانګه کې وي د کمال مخه نیسي او لهو دی، حتا که علم او هنر هم وي.

تاسو دا معنا په ډېرو عرفاني شعرونو کې هم لیدلی شئ. یعنې داسې یو حالت د بشر لپاره ددې په خبر دی چې په دنیا کې ورک شوی دی او له هاغه ځایه چې د هغه مألوف وطن او ټاټوبی دی، لېرې واقع شوی دی. د مولوي مثنوي د همدغې معنا له بیان سره پیل کېږي. [بشنو از نی چون حکایت میکند ـــ وز جدايي ها شکایت میکند] په مثنوي کې انسان یا د هغه زړه له دورمې [نی] سره تشبیه شوی دی. هاغه نی چې غبر او شپېلی یې له بېلتون او لېرې پرېوتنو حکایت کوي. مولوي غواړي انسان د هغه له موقف او مقامه خبر کړي چې په دنیا کې د غربت او زړه تنګی احساس ونکړي. ددغه حال او انساني اصیل احساس په مقابل کې، بل حال او وضعیت دی چې د بېلتون او د الهي قرب او الهي منزلته د لېرې غورځېدا له احساس سره هیڅ اړیکه نلري، بلکې پر عکس یې، په مادي ژوندون له هر څه څخه د ډېر برخمن کېدو لپاره، بوختېدل او د رقابت انګېزه او میل دی. حرص او تمه

درلودل او تل په دې اند کې چې له دنيايي ګټو هر څومره چې ډېر شوني وي وتروړي او لاسته يې راوړي. د «تکاثر» په سورت کې ډېرى اشاره همدې د ډېر غوښتنې منفي جنبې ته ده، چې مردوده ګڼل شوې ده.

أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ. دا د ډېرښت لټونې لامل، تاسو په ژوند کې بوخت کړي ياست. تر کومې؟ آيا د ځوانۍ د پير تر پايه؟ يعنې هاغه دوران چې انسان ژوند او فعاليت ته وارد شوى دى؟ نه. حَتَّى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ. بلکې تر هاغه مهاله چې د مرګ درشل ته ورسېږي. يعنې ته خپل ټول عمر همدغو هڅو او کوښښونو ته وقف کوې او د مرګ تر دمه تا نه پرېږدي. يعنې تر کومه غفلت کوئ؟ تر هاغې چې سر مو په اصطلاح د لحد په تيږه و لګيږي. يعنې بوختېدل تر کومې؟ «لهو» تر کومې؟ تر څو به په داسې څيزونو بوخت ياست چې ستاسو له ودې او تکامله مخنيوى کوي. د سعدي په وينا:

«گفت چشم تنگ دنيادار را  يا قناعت پر کند يا خاک گور»

[ويل د دونياوالو تنګې سترګې به  کړي قناعت ډکې يا د ګور خاورې]

د چا موخه چې يوازې دنيا ده، دا بايد په پاى کې يو ځاى کې قانع شي او يا دا چې يو ځاى کې تم شي، يا دا چې مرګ يې تم کړي. ميل او مادي انګيزه چې په انسان کې شدت ومومي، هاغه تل لا نور او لا ډېر له دنيا څخه د برخمن کېدو لور ته کښوي او له دې هڅو لاس نه اخلي. د دنيا دار تنګې سترګې بايد په پاى کې د ګور خاورې، ډکې کړي. پر دې بنا، انسان ډېرښت لټونې بوخت کړى دى؛ تر کومه؟؛ تل؛ تر ابده! تر هاغې چې ژوندى دى. تر هاغه مهاله چې ژوندي ياست تکاثر ته ميل به تاسو بوخت کړي.

د يوويشتم سورت «انبياء» په پيل کې، وايي: «اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ» د خلکو حساب ته رسېدل يعنې قيامت، نژدې شو. اِقترب د افتعال په باب کې دى او يعنې هغه ورځ همداسې لګيا ده نژدې او ډېره نژدې کيږي؛ ددې په څېر چې انسان په يو صف کې همداسې مخکې ولاړ شي تر دې چې په پاى کې يې نوبت راورسيږي. د حضرت علي په تعبير، نَفَسُ المَرءِ خُطاهُ إلي أَجَلِهِ. [نهج‌البلاغه، قصار کليمې: ۷۴] د انسان ساه اخيستنه، هره يوه ساه يې ګامونه دي چې د اجل پر لور يې اوچتوي. موږ له هرې ساه او د زړه له هر يو ټوپ سره يو ګام مرګ ته نژدې کيږو. تر بې نهايته خو موږ يو هم ژوندي نه پاتې کيږو. په هر حال يوه ورځ به دا ساه ګانې پاى ته ورسيږي «اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ» د خلکو حساب ته د رسېدو مهال لګيا دى نژدې کيږي او هغوى همداسې په غفلت کې دي. لکه موږ چې په ښوونځې ولو، او موږ ته به

یې ویل د ازموینې ورځ لګیا ده نژدې کیږي او موږ همداسې پر لوبو بوخت ولو. وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ او خلک همداسې غافل دي. دا د «غفلت» لغت هم ډېر له معنا ډک لفظ دی. غفلت یعنې له یو مهم او اساسي څیز څخه بې خبري او نا آګاهي ده.

که له یو ډېر مهم او خطرناک کار څخه څوک غافل او بېخبره پاتې شي وایې له هغه څخه یې غفلت کړی دی. فرمایي د خلکو حساب ته د رسېدو ورځ نژدې شوه، وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ مَّعْرِضُونَ. او د حساب او ګرویږنې له ورځې په غفلت کې همداسې مخ اړوونکي دي، چون یو مهال داسې وي چې سړی له یو څیزه غافل دی خو له هغه مخ اړوونکی نه دی، او کېدی شي بل ځل یې ورته پام شي، خو یو مهال داسې غفلت دی چې مخ اړونه یې پکې پخپله غوښتې ده؛ د ابدي حقیقتونو څخه د مخ اړونې له کبله دی چې له هغوی بېخبره دي، لکه څنګه چې له قیامته بېخبره دي. ولې دا ډول دي؟ لَاهِيَةً قُلُوبُهُمْ ددې لپاره چې زړونه یې له حقه غافل او په نورو څیزونو اخته دي. کله چې د سړي زړه په دنیا پورې نښتی وي او د هغې په مسئلو او ګټو یې زړه خوشحال کړی وي، نو د هغه زړه له دنیا ډک شوی دی او ددې امکان او فرصت ورته نه دی پاتې شوی چې د حق پروا او پلټنه وکړي. ټول پام، هم او غم یې همدا دنیاوي څیزونه دي چې بوخت کړی یې دی: چې دا ځای و پلورم، هاغه ځای به وپېرم، په ګټې به یې دا کار وکړم، هغه کار به وکړم. دنیایي ژر تېرېدونکو ګټو یې ټول زړه او وخت نیولی دی. کله چې انسان کوم فرصت ونلري چې د دنیا له دندو پرته اندنه وکړي، په طبیعي توګه اصلاً نه متوجه کیږي چې عمر یې لګیا دی په «لهو» تېریږي. اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ مَّعْرِضُونَ. لَاهِيَةً قُلُوبُهُمْ. [انبیاء ۱ (۲۱:۱)] زړونه له دې کبله چې سخت پر دنیا بوخت دي، د حق له یاده غافل او مخ اړوونکي دي.

قرآنکریم په ځلونو ددې مسئلې ذکر کړی دی چې د بشر راتلونکی ډېر خطرناک راتلونکی دی؛ زموږ سرلیک تر دې بریده مهم او خطرناک دی چې زړه لړزوي. خو زموږ زړونه د دنیا پر بیهوده، عبثو او کم ارزښته څیزونو داسې بوخت دي چې هیڅ د راتلونکې په فکر کې نه یو. تاسو د قرآن په همدې پایاني سورتونو کې پاملرنه وکړئ، مثلاً د «زلزال» سورت: «إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا.» وینئ چې له راتلونکي خبر ورکوي چې څه ډول به ځمکه ولړزیږي او اورغورځوونکې به شي او ځمکه به خپل ټول دننني بارونه بیرون ته واچوي:
وَقَالَ الْإِنسَانُ مَا لَهَا. يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا. بیا وایي: انسان به هک پک وي وایي دا څه دي. په هغې ورځ کې به ځمکه پرله پسې د خپل ټولو خبرونو حکایت کوي. په هغې ورځ کې به

انسانان ډلې ډلې ستنيږي، چې خپل عملونه ووينې يا ورته وروښودل شي. او په هاغې ورځ کې به هر چا چې د يوې ذرې په کچه نيکي کړې وي پايله به يې ووينې او که يوه ذره بدي يې کړې وي هم همدا راز، يعنې دا ځمکه چې ورپورې نښتي ياست او هاغه څه چې د هغې پر مخ دي چې بوخت کړي يې ياست ټول به معدوم او نشت شي. د زلزال سورت پسې د «عاديات» سورت دی چې د مجاز په ژبه بيان کوي وايي: انسان لګيا دی د خپلو ګټو پر لور ځلور نعله په تاخت ځغلي! ګهيځ وختي، مخ په رڼا تياره کې حرکت کوي او دنيا پسې يرغل وروړي. د آسونو سومونه يې د تېز حرکت له کبله سپرغۍ وهي او دوړې او غبار اوچتوي او د قبيلې او طايفې د ټولو د ټولبدنې د ځای پر لور ځغلي. د څه لپاره؟ ددې لپاره چې غارت وکړي، لوټ وکړي او له دنيا يو څه وتروړي او لاسته يې راوړي. وايي انسان د دنيا په کار کې خومره تند او په بيړه او له هڅو او تلاشه ډک دی! وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ. او څومره د دنيا ګټې خوښوي! دا بيړه او يرغل؛ دا د مقصود لاسته راوړل او تروړل. وَإِنَّهُ عَلَى ذَلِكَ لَشَهِيدٌ. او حتا هغه پخپله هم ددې ناشکرۍ شاهد دی. پخپله يې هم په ځلونو تجربه کړې ده او پوهيږي چې د خپل پالونکې څښتن او د هغه د ديني او اخلاقي او معنوي اوامرو او چارو په نسبت تر کومه بريده «کَنود»، لټ او پڅ دی؛ دلته نو نور تيز، بيړه ناک او هڅاند نه دی. له دې لورې تېز ځي او بيړه لري، خو له هغې لورې لټي او پڅوالی څرګندوي. پاملرنه وکړئ، چې د «زلزال» له سورت څخه چې وروسته راځي د انسان د هڅو له پايلو خبر ورکوي. انسان هڅه کوي، ډېر جدي، ډېر خوځنده، خو د څه لپاره؟ د دنيا لپاره؛ د مادي ګټو لپاره. او په ورپسې سورت کې الْقَارِعَةُ. مَا الْقَارِعَةُ. بيا هم له هماغې ټکوونکې پيښې يادونه، د قيامت پيښه. هاغه ورځ چې انسانان لکه د پتنګانو په څېر، چې په آسمان کې خپاره واره الوځي، خپريږي. او غرونه به ګډوډ، تيت او پرک او دوړه وګرځي. او بيا: فَأَمَّا مَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ. په هاغې ورځ کې، د چا چې د عملونو، کړنو او چلند وزن دروند وي له غوره ژوندانه به برخمن شي، او د چا چې د چلند تله او د کړنو پايله سپکه وي نو: فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ. وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ. نَارٌ حَامِيَةٌ. ټاټوبی او د مور غيږ يې ژوره اور لرونکې کنده ده.

وينو چې پرله پسې يو له بل تر منځه سورتونه ددې خاورينې کړې له راتلونکې او په هغې کې له ژونده خبر ورکوي چې څه سرليک به ولري. دا ګرځنده کره چې موږ يې تلپاتې انګېرو څه ډول به د ګډوډۍ لاسلوبه شي او تيت او پرک به شي. دا راتلونکې څرګندوي او بيا ذکر کوي چې انسان څومره له دې بې خبره دی. د حضرت علي په وينا: «د حرانتيا وړ ده چې انسان له

جنتي سرليکه، ژغورنتيا او خلاصونه خبر کړي او بيا هم په هغه کې غفلت کوي، او په دوزخ کې د هغه د سقوط او غورځېدا له مهاله يې خبر کړي او ورته پاملرنه ونکړي». په دنيا کې، که ډېر کوچنی خطر د انسان ګټې تهديد کړي، سمدلاسه يې د چارې کولو په فکر کې غورځي او کوښښ کوي هغه رفع کړي او په مقابل کې يې، حاضر نه دی له لبرترينې ګټې څخه تېر شي او ورته په هڅه کې غورځېږي، هاند کوي چې پيدا شوې تشه ډکه کړي او تر نورو مخکې شي. خو دا چې ولې داسې دی، په ورپسې سورت، د «تکاثر» په سورت کې هغه ته ځواب ورکوي. دا مو مخکې هم ويلي چې د قرآن سورتونه ټول لکه د زنځير د کړيو په څېر له يو بل سره اړيکي لري په يو سورت کې يوه موضوع يو ځای ته رسوي او نتيجه ترې اخلې او په ورپسې سورت کې، همدغه مطلب له بل ليده مطرح کوي او له بل جهت او لورې پرې رڼا اچوي. د «تکاثر» سورت د «قارعه» سورت پسې او هغه د «عاديات» پسې او هغه هم د «زلزال» پسې ځای پر ځای شوی دی او ټول له يو بل سره اړيکه لري. نو، له بل لورې همدا زلزال او قارعه او ټکوونکي ګوزارونه دي چې مشرکان او د هغوی ژوند يې لاندې باندې ګډوډ او بل منګ کړ، چې تر دې مخکې به هغوی خپلې لوبې ژوندۍ په خاورو کې ښخولې او تل به يې له يو بل سره د دوښمنۍ او وحشت په حال کې ژوند کاوه. ښايي يو مثال دا مطلب روښانه کړي:

تجربه کړي به مو وي چې کله سړی سينما ته ځي؛ ذهن يې د ورځني ژوند د دندو او کار په مسئلو بوخت وي او د خپل ژوند د اړينو مسئلو په اړه يې خيزونه په ذهن کې ګرځي، نو که يو ناڅاپه فلم پيل شي، مثلاً د چاودنې د يوې صحنې ننداره يا د ريل د حرکت ننداره چې مخه يې د نندار چيانو لور ته وي او مخکې راځي او ګواکې هغوی انګيري چې پر سر به يې تېر شي، نابېره د انسان د خيالونو او اندونو مزی شلېږي او فيلم يې داسې ځانته جذبوي چې د خپلو مسئلو خيالونه او اندونه يې په بشپړه توګه له منځه ځي. قرآن هم په خپل دې لنډ سورت کې، چې په ټوليزه توګه له راتلونکې پېښې څخه خبر دی، زموږ ظرفيتونه او ذهني خيالونه ړنګوي او بل منګ کوي؛ دا چې په دنيا او څو ورځني ژوند پسې نښتي يو او ټول واقعيتونه او اصالتونه دلته وينو يو ځلي نابېره ورته تغير ورکوي؛ سترګې مو پرانيزي؛ پر سترګو پرتې پردې ليرې کوي او پر موږ غږ کوي چې وګوره او راتلونکې دې ووينه او پوه شه چې څه ډول ترې غافل يې او په څه خيزونو دې ځان بوخت کړی دی! سمدم د هاغه چا په څېر چې د خوړ پر غاړه کور ودان کړي او ورته ووېل شي چې په کال کې څو ځله دلته ويجاړوونکی سيلاو راځي او دا سېلاو تا او ستا کور او ژوند له ځانه سره وړي، دا خو شونې نه ده چې هغه دې دغې مهم

خبر ته اهميت ورنکړي. موږ پر دنيايي خطرونو باور لرو، چون په خپلو سترګو مو هغه ليدلي دي يا مو له نورو اورېدلي دي، او پر ځان پاملرنه کوو، لکه څنګه چې که ډېر لږ احتمال د خطر زموږ مال يا ځان يا کورنۍ او خپلوانو ته پيدا شي او په ټوليزه توګه د هر خسارت او زيان د احتمال په صورت کې، سمدلاسه د چارې په فکر کې کېږو او هڅه کوو له پېښې مخنيوی وکړو، خو دا راتلونکي چې قرآن يې وايي چون ډېر ليرې دی او هغه مو تجربه کړې نه دی او هيڅوک هم له هاغه ځايه نه دی راستون شوی چې پر هاغو پېښو چې پرخپلو سترګو يې ليدلي شهادت ورکړي، او يوازې پر هغه قلبي باور ولري او د ايمان په لرلو يې ومني، خبر يې جدي نه نيسو او د ژوندانه لهو او لعب نه پرېږدو.

---

۱ ـ «لهو» هر بيهوده او له واقعي ګټې او زيانه د انسان پام اړوونکي کار ته ويل کېږي او «الها» [أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ په جمله کې] د افعال باب ته په پاملرنه، يو ډول بيهوده او لهو عمل ته اړيستل څرګندوي. د انبياء سورت درې لومړنيو آيتونو، د دنيا په پُست او مقام او پر هغه پورې پر اړوندو پوچو بوختياو، او لوبو مشغولو غافلانو ته ټکان ورکوونکې ګواښ او هوشدار ورکړی دی: «اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ مُعْرِضُونَ. مَا يَأْتِيهِمْ مِنْ ذِكْرٍ مِنْ رَبِّهِمْ مُحْدَثٍ إِلَّا اسْتَمَعُوهُ وَهُمْ يَلْعَبُونَ. لَاهِيَةً قُلُوبُهُمْ ....».[انبياء ۱ (۲۱:۱) تر ۳].

۲ ـ سعدی له خپلو سفرونو په يوه کې له يوه شته من سوداګر سره د ديدار خاطره نقلوي چې په ټوله دنيا کې په ګردش کې پانګې څخه ډېره لږه برخه او ځيله دارايي وګڼله او د ګټورو تجارتو او د راتلونکو تفريحي سفرونو له شرحې وروسته، له سعدي غوښتنه کوي چې ته هم يو څه له هاغو چې په سفرونو کې دې ليدلي يا اورېدلي نقل وکړه، چې په اجمالي توګه يې وفرمايل:

آن شنيدستي که در صحرای غور  بار سالاری بيفتاد از سُتور
گفت چشم تنگ دنيا دار را  يا قناعت پُر کند يا خاک ګور

د سعدی خاطره ۸ پېړۍ مخکې مهال پورې اړه لري، اروابناد شريعتي هم يوه لنډه جمله زموږ د مهال او زماني د مصرفي نړۍ په ستاينه کې لري: « د سوکالۍ د وسايلو لاسته راوړلو لپاره د سوکالۍ قربانول!!» دا هڅه او تنده د مال په راټولولو کې هماغه قرآني ستاينه ده چې: «الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ» [همزه ۲ (۱۰۴:۲)]، «وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا» [فجر ۲۰ (۸۹:۲۰)].

رښتيا کله به سرې د لوبو، ساعت تېرۍ او ډېر غوښتنو له درانه خوبه راويښېږي او تر کومې به د غوښتنو، هيلو او ارزوګانو د ګوډاګيو له بنده آزاد شي؟ داسې برېښي چې تر هاغې مهاله چې مرګ يې له نژدې احساس کړی نه وي، د غفلت له خوبه به راويښ نه شي. د قيامت او د هغه د حساب او کتاب پر وړاندې بې تفاوتي او بې پروايي، د انسان د بينش له لنډوالي ولاړ شوی دی.

که د قیامت د راتلونکي د خطرنکوالي په نسبت یې لږ شانته پوهه او آګاهي درلودی، لکه د دنیا د محسوسو او مشهودو خطرو څخه د ځان ساتنې په څېر به یې له هغوی هم ځان ساته.

د مولوي په ګوابنده وینا:

یاد صُنْعت فرض تر یا یاد مرگ مرگ مانند خزان تو اصل برگ
سالها این مرگ طبلک میزند گوشِ تو بی گاه جُنبش میکند
گوید اندر نزعِ از جان، آه مرگ این زمان کردت ز خود آگاه مرگ
این گلوی مرگ از نعره گرفت طبل او بشکافت از ضربِ شگفت
در دقایق خویش را در بافتی رمز مردن این زمان دریافتی

[شپږم دفتر ـ له ۷۷۸ بیتونو وروسته]

---

## كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ﴿٣﴾

نه، هیڅکله داسې نه ده [ چې د عمر د پانګې تباه کول له ستونزې پرته وي]، ډېر ژر به [دهغې په پایلو] پوه شئ.(۳)

## ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ﴿٤﴾

نه، هیڅکله داسې نه ده، (۴) پس له دې به [په قیامت کې هم] ډېر ژر پوه شئ.

## كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ﴿٥﴾

داسې نه ده،(۵) [چې تاسو یې انګېرئ]، که یقیني علم [او باوري پوهه] ولرئ،

## لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ﴿٦﴾

بې له شکه هرومرو به دوزخ ووینئ. (۶)

| تَعْلَمُونَ | سَوْفَ | كَلَّا | ثُمَّ | تَعْلَمُونَ | سَوْفَ | كَلَّا |
|---|---|---|---|---|---|---|
| تاسو پوهېږئ | ډېر ژر | نه داسې نه ده | بیا | تاسو پوهېږئ | ډېر ژر | نه، هیڅکله [داسې نه ده] |

| الْجَحِيمَ | لَتَرَوُنَّ | عِلْمَ الْيَقِينِ | لَوْ تَعْلَمُونَ | كَلَّا |
|---|---|---|---|---|
| دوزخ | هرو مرو له شک پرته به ووینئ | په یقیني علم | که تاسو پوهېدلئ | نه، داسې نه ده |

---

خو د دنیا دا پراو ډېر ژر تېرېدونکی دی او تاسو په ناسمه توګه انګېرئ چې د دنیوی متاع دا کثرت او ددې په لاسته راوړلو کې یو تر بله رقابت او مخکښې، پرمختګ، ترقي او بریالیتوب دی ـــ حال دا چې دا هیڅکله ترقي او بریالیتوب نه دی. او تاسو به پر دې ډېر ژر پوه شئ!

كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ. نه! دا خبرې نه دي! نه ښايي داسې وي، کَلاّ د نفي او رد حرف دی؛ يعنې داسې نه دی چې انګېرئ. ډېر ژر به پوه شئ. لکه د هماغه ماشوم په څېر؛ چې لوبې پای ته ورسيږي، نو هاغه مهال پوهيږي چې کوښې او خولۍ يې نشته. وايي تاسو له خپله ځانه، نه پوښتئ چې؛ آيا دا چاره سمه ده؟ آيا د ژوندانه دا طريقه او لاره منطقي ده؟ آيا دا دود او چلن ستاسو په ګټه دی؟ يا نه، ستاسو ژوند به باد ته ورکړي؟ نو داسې نه ده! چې تاسو يې انګېرئ، تاسو به ډېر ژر پوه شئ. او ډېر ژر به درته معلومه شي. چې مخکې ولاړ شئ او چې د ژوندانه ډېره تجربه مو پيدا کړه او بل ژوند مو پيل کړ، تاسو ته به دروښوول شي چې داسې نه ده چې انګېرلې مو ده. له ژر څخه مطلب آخرت هم کېدی شي ځکه د کومې هستۍ ليد چې له ازله تر ابده رانغاړي، د هغه لپاره څو زره يا څو ميليونه کلونه ډېره وړه برخه ده. ليکن له دې څخه مطلب مرګ هم کېدی شي، ځکه چې هغه هم له هر انسانه ډېر لېرې ندی، او دا خبره به مړ شوي انسان ته څرګنده شي چې پر کومو کړنو او دندو چې هغه خپل ټول عمر مصرف کړی دی، آيا دا د هغه لپاره د نېکمرغۍ او سعادت ذريعه وه يا د بدې پايلې او بدمرغۍ ذريعه.

ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ. بيا داسې نه ده چې انګېرئ، ډېر ژر به پوه شئ. وايي: بيا تکراروو چې ډېر ژر به پوه شئ، دا تکرار ټينګار، ګواښنه او خبر دی چې اوس يې درکوو؛ په راتلونکې کې به پخپله پوه شئ، تاسو به خامخا له دې چې د ډېر غوښتنو او تکاثر ګوډاګيان شوي واست او تر کومه بريده مو په دې غفلت کې خپله پانګه او سرمايه له لاسه ورکړېده، په يقين سره به تاسو له دې خوبه راويښ شئ، او هر څومره چې له دې جهانه لېرې او حساب ته نژدې شئ دا ويښتيا او پوهه به مو زياته شي. خو اوس موږ درته وايو چې له وخته مخکې ويښ او هوښيار شئ. دا د آيت تکرار د «ثُمَّ» له اضافت سره د انسان د علم د تکامل اوږد پړاو څرګندوي.

كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ. لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ. که تاسو د علم اليقين پړاو ته رسېدلي واست، که يقيني علم مو درلودلی او همدلته په دنيوي ژوند کې دې پړاو رسېدلي واست «لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ.» جحيم او هاغه سوځوونکی اور چې د تکاثر په پايله کې دی، همدلته به مو ليدلی او مشاهده کړی به مو وای.

په دې آيتونو کې، په ضمني توګه د علم درې پړاوونو ته اشاره شوې ده: «مطلق علم»، «علم اليقين يا يقيني علم» او «عين‌اليقين». د علم لومړنی پړاو همدغه اطلاعات او معلومات دي چې موږ يې له جهانه لرو. همدا د فزيک، کيميا، بيولوژي او رياضياتو علم او نور علمونه، چې د جهان په اړه موږ ته معلومات او پېژندنه راکوي؛ هاغه نظريې، تئوري ګانې او فرضيې

چې د جهان او کایناتو په اړه مطرح دي. په اجمالي توګه موږ ټول، هر یو په یوه ړښته یا څو ړښتو او څانګو کې لږوډېر له دا ډول پوهې او دانشه برخمن یو، چې البته له حدس او ګومان، تردید او ابهام سره ګډ دي. بل پړاو، اوچتتر پړاو دی او هغه علم الیقین دی. یعنې پر یو څیز علم او پوهېدل په داسې ډول چې داسې روښانه، ښکاره، څرګند او بربښنده وي چې په اړه یې هیڅ وټ او تردید موږ ته پاتې نه دی. تر دې پړاوه، اوچتتر پړاو عین‌الیقین دی، چې پوهېدل نه، بلکې د یقین پر سترګو لیدل دي. او دا د علم تر ټولو لوړ پړاو ګڼل کېږي. وایي:

كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ، که تاسو د علم او پوهې تر دې لوړ علم درلودی، چې همدا علم الیقین دی، لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ. له شک پرته، یقیناً دوزخ به مو لیدلی. د لَتَرَوُنَّ «لام او نون» د ټینګار لپاره دی – «ترون» یعنې وینئ، اما لَتَرَوُنَّ یعنې سل په سلو کې له شک او تردید پرته یې وینئ. ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ. بیا به یې له هیڅ شکه پرته یوه ورځ د یقین په سترګو ووینئ. دا د یقین سترګې به مو د آخرت په ورځ کې پرانېستل شي. په دنیا کې، د آخرت په اړه اند، یوازې کېدی شي پر دې علم، یقین وموندل شي، خو کله چې آخرت راشي او تحقق ومومي، هاغه مهال به هغه په سترګو ووینئ، او تر ټولو اوچت یقین ته به یې په اړه ورسېږئ، چې همدا عین الیقین دی. او وبه وینئ چې په دنیا کې دا ډول ژوند چې د آخرت له هیرولو سره مل دی جهنمي عوارض یې درلودلي دي.

د جهنم په اړه هم داسې خیال ونکړو چې خدای تعالی په یو ځای کې اور بل کړی دی او انسان هلته وروړي او پکې یې وراچوي. جهنم زموږ د اعمالو طبیعي نتیجه ده. په دنیا کې هم کولی شو د هغه مثالونه ووینو: د مثال په توګه که خپل بدن سم وپېژنو او د هغه د غړو او لاسونو له چارو آګاه اوسو، طبیعي ده چې پوه به شو د پلانکۍ غذا خوړل به موږ مثلاً د زړه په درد یا کوم بل رېږ اخته کړي. دا دنیایي مثالونه دي. ټول پوهېږو چې که ورانه شوې، باسي او مسمومه غذا وخورو طبیعي نتیجه یې یو سخت عذاب دی چې زموږ جسم به پرې اخته شي، خو ولې پر دې نه پوهېږو چې په ناسمه، خلاف او غلطې لارې تلل هم همداسې دي او هغه هم خپل غبرګون او ځانګړې طبیعي نتیجې لري او آخرت زموږ له عملونو بېل او زموږ د کړنو له پایلو پرته کوم بل څیز نه دی.

په دې سورت کې ټینګار کوي چې ړښتیا کله به انسان د ساتیرۍ او ډېرغوښتنې له درانده خوبه راویښ شي او کله به د خپلو بې پایانو هیلو او ارزوګانو د ګوډاګیو له بنده خوشې شي؟

داسې برېښي تر کوم مهاله چې د انذار او ګواښنې غبږ يې په غوږ کې نه دی پوکل شوی او خطر يې له نژدې نه وي احساس کړی د خوب له سستۍ او بستره به خارج نه شي. لکه څنګه چې وويل شول د قيامت او حساب او کتاب پر وړاندې بې تفاوتي د انسان له ناپوهۍ او لنډ ليده سرچينه نيسي. خو لکه څنګه چې له دنيايي محسوسو او مشهودو خطرونو څخه ځان ژغوري، که ددغې ستر خطر په نسبت يې ډېره لږه پوهه او آګاهي درلوداى له هغه به يې ځان ساته. خو که په تېر کې پر قيامت باورول ډېر ستونزمن، ناشوني او لېرې برېښېدل، د وخت په تېرېدو سره په تدريج چې د انسان علم پر خپل ګرد چاپېره جهان ډېر شو او د مرګ او ژوند پر ماهيّت، او د ځمکې او آسمان د ښکارندو پر حرکت يې پوهه او آګاهي وموندله پر دې چار باور کول ورته آسانتر شوي دي. تر هاغه ځايه چې رهي دی او پرمختګ کوي او د کائناتو په اړه يې پوهه او معلومات ورځ تر بلې زياتېږي، ښايي ډېر ژر به د هستۍ د آيتونو له ژور شناخت سره د آسمانونو او ځمکې په نظام او ملکوت او د پالونکي ښېتن پر لور د هغوی پر ستنېدو پوه شي، په هاغه ورځ چې ښايي ډېره لېرې به هم نه وي، انسان به پوه شي چې قضيه څه ده او څه ډول د داسې خطرناکې راتلونکې پر وړاندې په تکاثر بوخت او غافل شوی دی او د خپل عمر ارزښتناکه پانګه يې پر لهو او لعب ضائع کړې ده؛ (كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ).

په هر حال کې په کوم نسبت چې د انسان «علم» د هستۍ عالم ته زيات شي، په تدريج (ثُمَّ) به د مبداء او مقصد په نسبت ادا ډول آګاهۍ او ايمان ته ورسيږي (ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ). خو له کومه ځايه چې لا تر اوسه ادا ډول علمي يقين ته نه دی رسېدلی، پر جهنم او جنت باور نه لري او نه شي کولی هغه احساس کړي (كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ. لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ). که څه هم د تقوا او ذکر اهل د ايمان په نور په همدې دنيا کې هاغه څيزويني چې نور بندګان يې په آخرت کې ويني.

وايي تاسو اوس غافل ياست او په دې غفلت کې مخ اړوونکي ياست؛ يعنې انګيرئ چې شوني ده غافل شئ؛ او خپل ځان مشغول کړئ او آخرت ته فکر ونکړئ. لکه د زرکې په څېر مو سر په واورې کې منډلی او خيال کوئ چې لکه ستاسو په څېر؛ چون تاسو څوک نه وينئ تاسو به هم څوک نه ويني. داسې نه ده كَلَّا هيڅکله داسې نه ده لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ. که ژوره پېژندنه او آګاهي مو درلودی د خپل کار نتيجه او پايله به مو هرومرو ليدلی.

حضرت علي د متقينو په ستاينه کې او پر جنت او جهنم د هغوی د يقين په اړه فرمايي: «فهم والجنة كمن قد راها، فهم فيها منعمون، وهم والنار كمن قد راها، فهم فيها معذبون» (نهج

البلاغه ۱۸۴ خطبه پنځم بند چې په متقين مشهوره ده) دا خطبه چې د متقيانو په اړه ده. يوه ډېره ټکان ورکوونکي خطبه ده. په هغې کې د متقيانو صفتونه شمېري چې له هغې جملې وايي فَهُم والجَنَّةُ كَمَن قَد رَآها. جنت د متقيانو لپاره داسې ډول دی چې ګواکې هغه يې ليدلی دی. فَهُم فيها مُنَعَّمونَ. او د هغه له نعمتونو برخمن دي. وَهُم وَالنّارُ او د دوزخ اور ته داسې دي چې انګيري ګواکې په هغې کې ول؛ ګواکې د هغه عذاب يې ځکلی دی. يعنې پرهېزګاران او د تقوا اهل په دنيا کې د آخرت په اړه د پېژندنې او آګاهۍ داسې ژوروالي ته رسېږي چې ګواکې په هغې کې واقع شوي دي.

همدا راز د ذاکرينو په ستاينه کې او د آخرت په نسبت د هغوی د پوهې او آګاهۍ په اړه فرمايي: فكانما قطعوا الدنيا الى الاخرة و هم فيها فشاهدوا ماوراء ذلک، فكانما اطلعوا غيوب اهل البرزخ فی طول الاقامه فيه، و حققت القيامه عليهم عداتها، فكشفوا غطاء ذلک لاهل الدنيا حتى كانهم يرون ما لا يرى الناس، و يسمعون ما لا يسمعون [۲۱۳ خطبه پنځم بند] ګواکې دنيا يې پای ته رسولې او آخرت ته وارد شوي دي او هلته دي، او هاغه څه چې دنيا پسې وروسته دي په سترګو يې ليدلي دي. د هاغه چا په څېر چې د اهل برزخ پر احوال هلته د هغوی د هستوګنې پر مهال آګاه دي او قيامت، خپلې ژمنې ورته ثابتې کړې دي. نو د دنيا د خلکو د (سترګو) له مخې يې پرده پورته کړې ده په داسې ډول چې ګواکې دوی هاغه څهويني چې خلک يې نه ويني او هغه څه اوري چې نور يې نه اوري.

يا په يو ځای کې وايي: په خدای سوګند، که دا پردې او دنيايي حجابونه زما له سترګو اخوا شي، زما په علم کې به څه زياتوالی ونشي. يعنې له قلبي ايمان سره مې، پر بلې دنيا باور کړی دی او لازمه نه ده د تصديق لپاره يې په سترګو ووينم. انسان د ايمان او قلبي سترګو له پرانېستلو سره کولی شي يقيني باور ته ورسيږي. لازم نه دي انسان ددې لپاره چې باور وکړي ټول څيزونه د سر په ستر ګو ووينې. يوازې د سر په سترګو ليدل نه دي چې يقين ببنې؛ قلبي ايمان او دننی معرفت او آګاهي هم کولی شي موږ يقين ته ورسوي. تاسو که د يقين علم ولرئ، نو هاغه مهال به د يقين له سترګو سره هم وينئ.

انسان په عادي حالت کې ددې تمه لري چې پر يو څيز د باور درلودلو لپاره حتماً هغه ووينې. د «مائده» په سورت کې راغلي دي چې حواريونو له حضرت عيسی وغوښتل چې پالونکی څښتن ورته له آسمانه غذا او توښه راوړي، او پوښتنه کوي چې آيا ستا پالونکی څښتن داسې کار کولی شي:

هَلْ يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ أَن يُنَزِّلَ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَاء، [مائده ۱۱۲ (۵:۱۱۲)] آيا کېدی شي خدای تعالی موږ ته له آسمانه کوم څيز راولېږي چې هغه وخورو او تر غاښ لاندې يې خوند حس کړو؟ نو بيا به هاغه مهال نور موږ پخپله د ټولو په مخکې شهادت ورکړو او وبه وايو چې موږ واقعاً له آسماني مائدې خوړلې ده او تا رښتيا ويلي او خدای تعالی يقيناً شته. بني اسرائيلو به هم موسی ته ويل چې آيا کېدی شي موږ خدای تعالی ووينو؟ کله چې انسان د علم په ټيټو پړاوونو کې قرار لري، طبعاً د آګاهۍ موندلو لپاره اړتيا لري چې لمس کړي، واوري، ووينې؛ خو د علم په اوچتو درجو او پړاوونو کې، آګاهي او پېژندنه داسې روښانه او څرګنده او يقيني ده چې د حواسو وساطت ته اړمنه نه ده.

---

۳ ـ په هر نسبت چې د انسان «علم» د هستۍ د عالم او د خپلو کړنو د غبرګون په اړه زيات شي، ورو ورو او په تدريج به د راتلونکي سره د خپلو کړنو په اړيکه آګاهۍ او شناخت ته ورسيږي. خو لکه څنګه چې لا تر اوسه دا ډول علم ته نه دي رسېدلی په جهنم او جنت باور نلري.

۴ ـ ويل کيږي چې د «سوف» په نسبت د «ثم» تمېدونکی عطف، پر اوږد مهاليز واټن دلالت کوي، نو پر دې بنا «سَوْفَ تَعْلَمُونَ» چې د ماتو، ناکاميو او ربړونو په نتيجه کې له حاصل شوي علم او تجربې لـه اثره لاسته راغلو آګاهيو ته، اشاره کوي. دا داسې علم دی چې پـه دنيـا کې حاصـليږي، خـو د «ثم» عطف پـه آخرت کې پر ژورو علمي آګاهيو دلالت کوي.

۵ ـــ دا دريم «کَلاَّ» دی [نـه داسـې نـده]؛ لـومړنی يـې د دنيـايي تکـاثر پـه نفـي کې دی، دويـم کَـلاَّ د د دنيـايي چـارو د پـای د لېـږې ګڼلـو پـه نفـی کې دی، او دريمـی مـورد يـې، د آخـرت پـه سـرليک کې د عمل د بې تأثير ګڼلو په نفې کې دی.

۶ ـ د تقوی او ذکر اهل، په همدې دنيا کې د ايمان د نور په توسه داسې يو څيز ويني چې نور بندګان به يې په آخرت کې ويني. حضرت علي (رض) د متقيـانو او پـه جنـت او دوزخ د هغـوی د يقـين پـه ستاينه کې فرمايي: « له جنت سره د هغوی اړيکه د هاغه چا په څېر ده چې هغه يې ليدلی او په هغې کې لـه نعمتونـو برخمن شوی دی، او له جهنم سره د هاغه چا په څېر دی چې هغه يې ليدلی او په هغې کې په عذاب شـوی دی» [نهج البلاغه ۱۸۴ خطبه]. همدا راز د ذاکرينو او پـه دنيـا کې د آخـرت پـه نسـبت د هغـوی د علـم او آګاهۍ په ستاينه کې هم فرمايي: «ګواکې دنيا يې پای ته رسولې او آخرت تـه وارد شـوي دي او هاغـه څـه چې په دنيا پسې راځي په سترګو ليدلي دي. او ګواکې د برزخ د اهل په پټ احوال د هغوی د هسـتوګنې پـه موده کې آګاه او خبر دي او قيامت ددوی لپاره خپلو ژمنو ته تحقق ببنلی او د دنيا د خلکو د سترګو له مخې يې له هاغو اوضاعو پرده پورته کړې ده؛ ګواکې دوی داسې يو څيز ويني چې خلک يې نه ويني او داسې يو څيز اوري چې نور يې نه اوري».

---

ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ﴿۷﴾

بيا به يې تاسو هرومرو د يقين په سترګو ووينئ. (۷)

ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ﴿۸﴾

وروسته(۸) به بيا په هغې ورځ کې له شک او ترديد پرته له [هاغو] نعمتونو [چې تباه مو کړل] وپوښتل شئ. (۹)

| ثُمَّ | لَتَرَوُنَّهَا | عَيْنَ الْيَقِينِ | ثُمَّ | لَتُسْأَلُنَّ | يَوْمَئِذٍ | عَنِ | النَّعِيمِ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بيا به | خامخا ووينئ | په يقيني سترګو | بيا به | هروهرو وپوښتل شئ | په هاغه ورځ کې | له [په اړه د] | نعمتونو |

هاغه کسان چې په دنيا کې دا ډول ايمان او آګاهي ته ورسيږي له شک او وټ پرته جهنم به له خپل يقيني علم سره ويني «كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ. لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ.» او دا پيژندنه، شناخت او شهود به په پای کې په نهايت کې له يقيني علم څخه پورته او مخکې لاړ شي او عين اليقين ته به ورسيږي «ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ.». دا هاغه پړاو دی چې که په دنيا کې حاصل نه شي، حصول يې په قيامت کې د ټولو لپاره حتمي دی ځکه چې هلته ټول بينا کيږي (يبصّرونهم) او له تيز او اغيزناک بصيرت سره هاغه څه چې تري غافل ول په ځرګنده توګه ويني: «لَقَدْ كُنْتَ فِي غَفْلَةٍ مِنْ هَذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَاءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ» [ق۲۲ (۵۰:۲۲)]. په هاغه ورځ کې به جهنم د هاغه چا لپاره چې ويني ښکاره کيږي «وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِمَنْ يَرَى» [نازعات ۳۶(۷۹:۳۶)]. او د هاغه څه له حاصلېدو سره چې په سينو کې دي «وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ» [العاديات ۱۰ (۱۰۰:۱۰)] هر څوک د خپلو کړنو ليدو ته رهي کيږي..... «...أَشْتَاتًا لِيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ، فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ» [زلزال۵(۹۹:۵)]. همدا راز د کهف په سورت کې الله تعالی فرمايي: «وَرَأَى الْمُجْرِمُونَ النَّارَ فَظَنُّوا أَنَّهُمْ مُوَاقِعُوهَا وَلَمْ يَجِدُوا عَنْهَا مَصْرِفًا» [کهف ۵۳(۱۸:۵۳)] او مجرمان [د دوزخ] اور ويني او يقين کوي، چې په هغه کې به وروغورځي او د تېښتې لار به تري ونمومي.

په هاغې ورځ کې له شک او وټ پرته، انسانان له بې شمېره نعمتونو څخه چې دداسې ورځې د چمتو کېدو لپاره يې درلودل او هغه يې ضايع کړي دي پوښتل کيږي «ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ.» بيا به په هغې ورځ کې به د نعمتونو په اړه لَتُسْأَلُنَّ پوښتنه وشي. د لَتُسْأَلُنَّ لام او نون

هم د لَتَرَوُنَّ، په خبر هر دواړه د ټينګار لپاره دي. «تَسأَلُ» يعنې له تاسو پوښتنه کېږي – مجهول فعل دی – لَتُسْأَلُنَّ يعني سل په سلو کې له شک پرته هرو مرو به له تاسو پوښتنه وشي. د څه په اړه له موږ پوښتنه کېږي؟ عَنِ النَّعِيمِ. «نعيم» ذاتي او خدای ورکړی نعمت دی. يعنې د ټولو نعمتونو، شتو او امکاناتو په اړه به پوښتنه وشي، چې خدای تعالی انسان ته ښښلي او لورولي دي. د حضرت رسول اکرم څخه په بې شمېره روايتونو کې دا خبره نقل شوې ده چې الله تعالی چې کوم نعمتونه بندګانو ته ورکړي دي د هغه په اړه به له ټولو پوښتل کېږي؛ که مؤمن وي که کافر ټول به ځواب ورکوي، دا بېله خبره ده چې کومو کسانو چې د نعمت کفران نه دی کړی او شکر يې ايستلی دی په دې محاسبه او ګروېږنه کې به بريالي اوسي، او هاغو کسانو چې د الله د نعمتونو حق نه دی ادا کړی او هغه يې په اړينه توګه نه دي کارولي او پر خپل قول او عمل يې او يا د دواړو په توسه يې د هغه ناشکري کړې ده په محاسبو، پوښتنو او ګروېرنو کې به ناکام وي.

د حضرت جابر بن عبدالله روايت دی چې وايي: حضرت رسول الله (ص) موږ کره تشريف راوړی وو او موږ ورته تازه کجوري حاضرې کړې او يخې اوبه مو پرې و څښلې. پر دې حضرت رسول اکرم (ص) وفرمايل: «دا د هاغو نعمتونو له ډلې دي د کومو په اړه به چې له تاسو پوښتنه کېږي» [د احمد مسند، نسائي، ابن جرير او ډېر نور....]

د حضرت رسول اکرم (ص) له دې حديثه او له ډېرى نورو حديثونو دا خبره څرګندېږي چې پوښتنه يوازې له کفارو نه بلکې له صالحو مؤمنانو هم کېږي، چې البته ددې نعمتونو شمېر ډېر زيات دی، الله تعالی په قرآن مجيد کې فرمايلي:

«وَآتَاكُمْ مِنْ كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ» [ابراهيم ۳۴(۱۴:۳۴)]. او [ستاسو په وجود کې، د ارادې او د غوښتلو لپاره د انګېزې له اېښوولو سره، او د غوښتنو له اجابت سره] هر څه مو چې و غوښتل تاسو ته يې درکړل، او که وغواړئ د الله نعمتونه وشمېرئ، وبه يې نه ګڼلی شئ په رښتيا چې انسان [ددغو نعمتونو له پامه غورځولو سره، پر خپل نفس] ډېر ظالم او ناشکره دی.

نو هاغه نعمتونه چې الله تعالی انسانانو ته عنايت کړي او لورولي دي بې شمېره دي، حضرت رسول اکرم په يو حديث کې: د عمر، مال، ځوانۍ او کار نعمتونو ته اشاره کړې ده يو له ډېرو مهمو نعمتونو چې بندګان د هغوی په اړه پوښتل کېږي، همدا د شناخت درې

ګوني وسیلې؛ سترګې غوږونه او فؤاد [عقل او احساس] دي: «وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا» [اسراء ۳۶ (۱۷:۳۶)].

خدای تعالی انسان ته د شناخت او پېژندنې درې وسیلې او توکې ورکړې دي – او قرآن په ځلونو پر دې ټینګار کړی دی: «سمع» [اوربدنه، غوږ] او «بصر» [لید، نظر] او «فؤاد» (قلب) [زړه]. په دنیا کې د شناخت او پېژندنې لپاره زموږ وسایل همدا دي. لکه څنګه چې د ځینو څناورو لپاره د شناخت وسیلې مثلًا د هغوی ښکرګوټې دي. وایې غوږونه مې درکړي چې واورئ، سترګې مې درکړي چې ووینئ او فؤاد یعنې عقل، مې درکړی چې اندېښل وکړئ او پوه شئ او په خپلو کړنو او چلن کې فکر او اند وکړئ.

دا د انسان ذاتي نعمتونه دي. آګاهي او پوهه موږ ته راکړل شوې، کتاب او وجدان او عقل پر موږ لورول شوي دي. په همدې لاملونو او حجتونو به د قیامت په ورځ کې تر پوښتنې لاندې ونیول شو؛ ددې په اړه به له موږ وپوښتل شي؛ چې له دې سره مو څه کړي دي؟ څه ډول له دې ټولو سره سره غافل واست؟ په دنیا کې مو څه کړي دي؟ که له نن ورځې سره مناسب او په درد خوړلی علم دې نه دی پیدا کړی نو څه دې کړي او له خپله عمره دې څه بر او حاصل لاسته راوړی دی؟ عمر دې په څه کې تېر کړی دی؟ ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ.

دا لنډ سورت، د مخکینیو سورتونو سره په اړیکه او لړ کې، یو ذکر او خبرتیا ده چې په راتلونکې کې به دا ډول پېښې او واقعې رامنځته شي او دا ځمکه چې تاسو دومره ډېر پرې زړه تړلي یاست ستاسو لپاره جاوید او تلپاتې ځای نه دی؛ دلته امنیت نه لرئ او یوه ورځ به دنیایي ژوند او هر هغه څه چې د ځمکې پر مخ دي معدوم او نشت شي او په راتلونکې کې به داسې څه واقع شي چې په هغې کې به د جهان اوسنی فزیکي نظام له بنسټیزو بدلونونو او تغییراتو سره مخامخ شي او انسان به نوی ژوند ومومي. باید خپل ځان د هاغې موقع او چاپېریال لپاره چمتو کړئ. د «عادیات» په سورت کې، دې راتلونکې ته د انسان د نه پاملرنې او د خدای په لار کې د انسان د پخوالي او لټۍ خبره ویل شوې ده او په دې سورت کې د انسان په ډېر غوښتنې، تفاخر او تکاثر د بوختېدلو خبره شوې ده، چې کېدی شي په هر څیز کې وي، حتا ډېرغوښتنه، لوړهځې، او لوړپالي په علم او هنر کې. که موخه او هدف الهي نه وي او له علم څخه موخه یوازې دا وي چې؛ مثلاً ډېر کتابونه ولیکي چې مشهور شي او لوړو علمي او پوهنتونیزو مرتبو او مقامونو ته لوړتیا ومومي او ریاست ته ورسیږي او ددې په څېر

نور، چې ټول پر دنيا د بوختېدو مصداق دي. دا ټول په يو شرط ښه دي چې هدف يې پر الهي بنيادونو ټيکاو وي، او الهي موخه ولري. خو که د ظاهري ښه څيزونو له زياتونو او تکاثر څخه هدف نه د خلکو خدمت وي او نه د مثبتو کارونو د سرته رسولو لپاره وي، په قطعي توګه به همدا مفيد او ګټور څيزونه ضرر ورسوي. د اولاد په اړه هم وايي: «...لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ عَن ذِكْرِ اللَّـهِ...» [منافقون۹(۶۳:۹)] داسې نه چې مال او اولاد مو د خدای له ذکره بوخت کړي. لَا تُلْهِكُمْ يعنې لهو کړنې مه کوئ او دنيا مو بوخت او غافل نکړي چې خدای له ياده وباسئ. انسان لکه د نورو ژوو په څېر نه دی چې يوازې زوکړه وکړي او نسل وزېږوي. انسان په خپل زېږد او زوکړه کې له طبيعي عمل او د حيواني مثل له توليد سره بايد يو څه زيات سرته ورسوي او له هغه د نورو څيزونو تمه لري. که ښځه وي يا نارينه، توپير نکوي. د ښځې لپاره دا کافي نه دي چې يوازې مېندواره شي او ماشوم وزېږوي او بيا هغه ستر کړي؛ يا هم د نارينه لپاره چې وغواړي زيات شمېر زامن ولري. انسان اولاد د څه لپاره غواړي؟ که موخه يې د هغوی روزنه او وده ورکول دي، هوکې دا د خير په لار کې سمه چاره او يو سم نيّت دی؛ او که نه نو کورنۍ همسر او اولاد هم کولی شي، د خدای ذکر د انسان له ياده وباسي. دا ټول، سره له دې چې مطلوب، په زړه پورې او ضروري دي، کولی شي د انسان د پرمختګ، او ودې د لارې ديوال او خنډ هم وي.

نو په دې نعمتونو کې؛ بې حده او بې شمېره هاغه نعمتونه دي چې الله تعالی مستقيماً او نېغ په نېغه انسانانو ته ورکړي او پرې لورولي يې دي او ډېرې نعمتونه هم هاغه دي چې انسانانو ته د هغوی د خپلو هڅو او کسب په پايله کې ورکول کېږي. له انسانانو د هغو د خپلو هڅو او کسبه لاسته راغلو نعمتونو په هکله پوښتل کېږي چې هغه يې له کومو لارو لاسته راوړي دي او په کومو لارو کې يې مصرف کړي دي. د الله تعالی د نېغه په نېغه لورول شوو نعمتونو په اړه به حساب ورکوي چې هغه يې په څه ډول استعمال کړي او کارولي دي. او په ټوليزه توګه د ټولو نعمتونو په اړه به هغه ځواب ورکوي چې آيا هغه پر دې اعتراف کړی دی چې دا نعمتونه ورته الله تعالی ورکړي دي او پر هغو يې دزړه، ژبې او عمل په توسه شکر ادا کړی دی؟ يا داسې يې انګېرلې چې دا ټول يې په تصادفي توګه موندلي دي؟ او پرته له دې چې د ټولو نعمتونو خالق او مالک الله وګڼي. او پرته له دې چې دا نعمتونه د خپل ځان لپاره د ودې او تکامل او د نورو لپاره د خدمت وسيله وګرځوي، او پرته له دې چې له دې ټولو کارونو څخه يې موخه الهي وي، په خپله طريقه يې هلې ځلې کړي او ځان يې پرې بوخت کړی دی.

سره له دې چې له پورتنيو دوو زمينو [مال او اولاد] پرته، په قرآن کې (له دې کليمې څخه په استفاده) د تکاثر لپاره بله زمينه نه ليدل کېږي، خو د «لهو» په اړه چې پر دنيايي توکو زړه بايلل او مينتوب، د هغوی پايلو، ګټو او زيان ته له پاملرنې پرته دی، نور مصاديق يې، چې ډېری يې همدا د مال او اولاد په اړه دي او په غير مستقيم ډول همدوی پورې اړه نيسي، ليدل کېږي : په قرآن کې د غور او څېړنې په پايله کې څرګندېږي چې پر دنيا بو ختېدل او د خدای له ياده د اېستلو او غفلت ډولونه ډېر دي چې د هغوی له جملې څو يې په لاندې توګه ذکروو.

بيع او تجارت: يو له هغوی بيع او تجارت دی؛ البته هر يو تجارت لهو نه دی بلکې هاغه تجارت؛ پېر او پلور لهو دی چې انسان د خدای له ياده غافلوي. چې د جمعه او نور په سورتونو کې يې هم د تجارت او لهو دوه کليمې بېلې بېلې ذکر کړې دي ددې لپاره چې توپير يې څرګند کړي.

«وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا قُلْ مَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ مِنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ » [جمعه ۱۱ (۶۲:۱۱)] او [ډېری له خلکو] چې تجارت [او ورکړه راکړه] يا [کومه په زړه پورې او] بوختوونکې [موضوع] ووينې، [په لېوالتيا] د هغې لور ته ځغلي[۲۳] او تا [د خطبې د وينا په حال کې] ولاړ پرېږدي! ووايه هر هغه څه چې له الله سره دي، له [دې] بوختياو او [دنيايي] پېرپلور غوره دي؛ او الله ډېر غوره روزي ورکوونکی دی. او همدا راز د نور په سورت کې:

«رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ ...»[نور ۳۷ (۲۴:۳۷)] هاغه سړي چې نه په تجارت بوختيدل او نه پېرودل او پلورل هغه د خدای له ياده وباسي.

دا د نور په سورت کې دی. په دې سورت کې يې دا هم بيان کړی چې د خدای نور بايد په کومو کورونو کې ولټول شي: «اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ مَثَلُ نُورِهِ كَمِشْكَاةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ» [نور۳۵(۲۴:۳۵)] دا نور چرته دی؟ کوم کورونه نوراني دي؟ وايي د هاغو ښځينه او نارينه - و - په کورونو کې چې تجارت او ورکړې راکړې او کار او دندې هغوی بوخت کړي نه دي او د خدای له ياده او د لمانځه له اداء کولو او ولاړولو يې نه دي ايستلي. نه وايي چې په کسب او تجارت پسې نه ځي، بلکې برعکس، تشويق کړي يې هم دي، خو وايي کسب، دنده او پېرودل-پلورل هغوی د خدای له ياده نه غافلوي؛ داسې نه دي چې ټول فکر او ذکر يې، کار او د عايد او ګټې ميزان وي. اوس تاسو ووينئ په سلو کې څو کسان داسې دي؟ څو په سلو کې موږ له خپله کار او کسبه آزاد يو؟ کهيځ چې راويښ شو د شپې تر ناوخته پورې په

کار پسې يو. په يوه شپېنۍ ورځينۍ کې څومره د کار له معاش او بوختيا تر څنګه په نورو څيزونو کې فکر کوو؟ موږ ته داسې برېښي چې کوم بد کار نکوو. هوکې، کار او هڅه او حلاله روزي لاسته راوړل ډېر ښه، په زړه پورې او منلی کار دی، خو تر هاغې بريده چې په ټوله کې پر همغې بوخت نه شو. کار خو پخپله هدف نه دی، دا که هر کار وي. بهترين کار هم که فرض کړئ، بيا هم پخپله هغه هدف نه دی او نه ښايي هغه هدف وګڼو.

هيلې او ارزو ګاڼې: «ذَرْهُمْ يَأْكُلُوا وَيَتَمَتَّعُوا وَيُلْهِهِمُ الْأَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ» [حجر۳(۱۵:۳)]. په خپل حال يې پرېږده چې وخوري او برخمن شي او آرزوګانې يې په خپل ځان مشغول کړي. نو ډېر ژر به پوه شي.

دنيائي ژوند: «وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَعِبٌ وَلَهْوٌ...»[انعام ۳۲ (۶:۳۲)] د دنيا ژوند له لوبو او بوختيا پرته نور څه نه دی. (د عنکبوت په سورت کې دا آيت پرلهو د لعب پر مخکيوالي عيناً تکرار شوی دی). «إِنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ ....» [محمد ۳۶ (۴۷:۳۶)] او [حديد۲۰ (۵۷:۲۰)] د دنيا ژوند يوازې له لوبې او بوختيا پرته نور څه نه دی.

حضرت علي وايي چې زه ستاسو په اړه له دوو څيزونو ډېر ډارېږم: إنَّ اَخوَفَ ما اَخافَ عَلَيكُمَ اثنَتانِ: اتِّباعُ الهَوي وَ طولُ الأَمَلِ. يو دا چې په خپل زړه پسې ولاړ شئ او هر څه چې مو زړه وغواړي پليوني ترې وکړئ. او يو هم دا چې لېرې او اوږدې هيلې وپالئ. فَأمَا اتِّباعُ الهَوى فَيَصُدُّ عَنِ الحَقِّ. تاسو که د خپل زړه په غوښتنو پسې ولاړ شئ، نو د حق به څه کېږي؟ ستا که زړه هر څه چې وغواړي وکړې او د خپل زړه له غوښتنو پليوني وکړې، حق او حقيقت به څه کوي؟ حق پخپله د خپل ځان لپاره ضابطې او معيارونه لري چې د نفس له غوښتنو سره سمون نه خوري. فَأمَا طولُ الأَمَلِ فَيُنسِى الآخِرَةَ. [نهج البلاغه، ۴۲ خطبه] او اوږدې هيلې آخرت ستا له ياده وباسي او هاغه مهال ورته متوجه کېږې چې عمر دې پای ته ورسېږي. لکه شاعر چې وايي: «ای که پنجاه رفت و در خوابی مگر اين چند روزه دريابی»

[چې پنځوس کاله دې تېر شو لا ويده يې ګوندې څو ورځې د وينښې په ليده يې]

يا «تو چراغی نهاده بر ره باد» [د باد په لار کې د بل شوي څراغ په څېر يې] هاغه مهال چې برېښنا نه وه، د شپې د رڼا لپاره به يې ډيوه يا فانوس روښانه کاوه چې څنګه به باد پرې لګېده څراغ به مړ کېده. د دنيا کار جوړول او د آخرت هېرول ددې په څېر دي لکه په خوړ کې چې کور ودان کړې چې هره شېبه شوني ده سېلاب يې يوسي. نو بايد هڅه او تلاش وشي چې له

عمره يوازې دا څو ورځې پاتې دي او وخت تنګ دی. «کسی که چند روزه نوبت اوست» د هر چا نوبت څو ورځې دی. پروین اعتصامي په يو شعر کې چې د خپل قبر د ډبرې لپاره يې ويلی او د هغې يو له ښکلو شعرونو څخه دی وايي:

«آن که خاک سیهش بالین است ـ اختر چرخ ادب پروین است»

«صاحب آن همه گفتار امروز ـــ سائل فاتحه و یاسین است»

هاغه څوک چې د تورو خاورو پر څنګل يې سر ايښی، يوه ورځ د ادب د آسمان ستوری وو، د هاغو ټولو وېناو خاونده نن ورځ د فاتحه او ياسين سوالګره او طلبګاره ده.

هوکی، هاغه کسان چې سترګور دي او تېز ليد لري د ژوندانه پر مهال داسې ورځ وينې او مخکې تر دې چې ناوخته شي د ځان لپاره يو کار کوي. د سعدي په وينا:

«ای که دستت می‌رسد کاری بکن ـــ پیش از آن کز تو نیاید هیچ کار»

[چې دې لاس رسي عمل د نېکو وکړه ـ له دې مخکې چې دې وس د هيڅ کار نه وي]

مخکې تر دې چې له لاسه دې هيڅ کار پوره نه وي، اوس چې دې لاس رسي يو کار وکړه.

او بيا هم د همده په وينا: «عمر برف است و آفتاب تموز ـــ اندکی ماند و خواجه غرّه هنوز»

[د سور لمر په مخکې عمر لکه واوره ـ ډېر لږ پاتې، خانی لا هم پرې غره دی]

عمر لکه د واورې په څېر د دوبي تر لمر لاندې ويلې کيږي، چې ډېر لږ پاتې دی او خواجه لا تر اوسه هم غره دی. فردوسي وايي: «پرستیدن دادگر پیشه کن ـ به روز گذر کردن اندیشه کن»

[د عادل الله نمانځنه دې کړه دنده ـ دا چې ورځ شي هسې تېره غور وکړه]

## دين د دنيا لپاره دوکان او دلوبوسامان:

دا هم بايد ناويلي پرېنښوول شي چې يوازې دنيا نه ده چې غفلت راوړي، بلکې پخپله دين هم کېدی شي انسان د خدای له ياده لېرې او مشغول کړي، الله په قرآن کې ورته اشارکوي، وايي: «الَّذِينَ اتَّخَذُواْ دِينَهُمْ لَعِبًا وَلَهْوًا» [انعام ۷۰(۶:۷۰)] هاغه کسان چې دين د هغوی لپاره لوبې او ساتيري [بوختيا] ده، وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا او د دنيا ژوند هغوی غولولي دي. هدف يې دنيا ده او دين يې دوکان جوړکړيدی. بالاخره هر څوک بايد په يو ډول ژوند وکړي او يو شمېر هم د دينداری او د دين د دوکان له پرانېستلو ډوډۍ خوري، دا هاغه کسان دي چې په ظواهرو او آدابو او د دين په ظاهري تشريفاتو يې زړه خوښ کړی دی. دين يو حقيقت لري، يو پيغام او جوهر لري، او البته ظواهر او يو لړ آداب هم لري. دا نه دی چې زما زړه خوښ اوسي چې هرکال حج او عمره او کربلا او نجف او مشهد او پير بابا او مير بابا ته ځم او فکر کوم چې

خدای پالنه همدا ده او بس؛ هر کال په مولود او عاشورا کې شرکت وکړم او یا د مقدسو ځایونو آیینه کاري او طلاکاري وکړم او خپل ځان ددې په څېر پر یو لړ کارونو بوخت کړم البته ځېنې له دې کارونو کېدی شي ښه وي او د یو لړ ګټورو کارونو لپاره پیلیزه وي، خو که دا ټول په یو ډول یوازې موږ پر ځپل ځان مشغول کړي، غفلت راوړي. وایې دا کسان چې په لهو او لعب او دیني تشریفاتو او آدابو او تظاهراتو او د دین په باندینیو جلوو بوختېدلو، او شرک او خرافات پالنو او دین ته په ځانګو او پاڼو ورکولو یې، دین تبدیل شوی دی، دا کسان په خپل حال پرېږده. یعنې دا ډول دین هم کولی شي د خدای د هیرولو لامل اوسي، چې البته دا څرګنده ده چې دین خو پخپله داسې نه دی، بلکې له دینه غلط برداشت، غلط قرائت او په غلطه توګه یې استعمال، کولی شي داسې بد اثر ولري. د مولوي په وینا:

«زانکه از قرآن بسی گمره شدند زین رسن قومی درون چَه شدند»

ډېر خلک له همدې قرآن سره بې لارې شوي دي؛ په څاه کې پرېوتي دي. ددې پرځای چې د هغه په توسه له څاه پورته راشي: «مر رسن را نیست جرمی ای عنود ــ چون تو را سودای سر بالا نبود»

قرآن «حبل متین» کلکه رښته او کلکه رسۍ ده، چې د هغه په توسه شوني ده له څاه راووځي، او هم شوني ده په څاه کې پرېوځې. څوک چې د پورته تګ فکر نلري او نه غواړي د نفس پالنې له څاه راووځي، ګناه پر قرآن او دین ولې اچوي. هر څوک کولی شي له هرې سمې لارې سقوط وکړي، حتا د دین له لارې. که زموږ نیّت سم نه وي؛ دین به دګټې رسولو پر ځای، موږ ته زیان ورسوي قرآن د بني اسرائیلو د دیني عالم، بلعم باعورا، داستان نقل کړی دی چې:

«وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِي آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا» [اعراف ۱۷۵ (۷:۱۷۵)] وائي هغه مو ډېر آګاه کړی او پوه کړی وو، داسې چې له دې آګاهۍ او پوهې سره یې کولی شول، لوړ او اوچت ځای ته ورسېږي: وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَاهُ بِهَا وَلَكِنَّهُ أَخْلَدَ إِلَى الأَرْضِ، خو هغه په ځمکه کې د تل پاتېدو سره مینه او لوالتیا پیدا کړه او پر هغې پورې ونښت. یعنې له هاغو خپلو ټولو دیني معلوماتو او اطلاعاتو او تفقه سره یې بیا هم دنیا د دین پر ځای غوره کړه. بلعم باعورا د بني اسرائیلو ستر دیني عالم وو او د هغوی ستر مولوی او یا آیت الله ګڼل کېده، خو په دنیا پورې ونښت، په ځايګاه او مال او ریاست، په روحاني مقام، او په دې چې پر خلکو ویاړ وپلوري او په ویاړ وستایل شي لنډه داچې د دنیا هر څه یې د ځان لپاره غوره وګڼل. او بیا یې بد سرلیک ومونډ. مخصوصاً او په ځانګړې توګه چې وایي د هغه داستان دوی ته ولوله: وَاتْلُ عَلَيْهِمْ. دوی د هاغه چا له سرلیکه آګاه کړه چې د دین ستر عالم وو او د دین په اړه یې دومره ډېره زیاته پوهه

او شناخت درلود، خو ددې پر ځای چې هاغه علم او آګاهي د هغه لپاره بريد او حريم رامنځته کړي او حلال او حرام وپېژني او تواضع او خاکساري يې زياته شي، استعلا او استکبار يې وکړ ځان لوړ وګڼه او کبر يې وکړ او د دين له لاري کوږ او منحرف شو. نو هر څيز، که څه هم سم او مقدس وي، کولی شي د انسان د انحراف او بېلارۍ لامل وګرځي.

نو اصولاً دين چې د ودې او کمال او د الله پر لور د نژدېوالي لپاره د انسان د ژوند لارښود او کړنلار ده، هاغه مهال په دې اړه ګټور او اغېزناک واقع کېږي چې نګه او سوچه وي، لاس پرې نه وي وهل شوی او په شرک ککړ نه وي، خو که دين د دنيا دوکان شو او د شخصي يا صنفي او طبقاتي ګټو لپاره وسيله شوه، توجيه، تعبير او تحريف شو؛ وده، رشد او کمال نه پنځوي. که د اوهامو او خرافاتو په اغوستن وپوښل شي او په ظاهري آدابو، رسمونو او تشريفاتو وګاڼل شو او له محتوا تش شو دا نو نور قيّم دين نه دی، داسې يو دين دی چې د ديندارانو لپاره يې له لوبو او ساتېرۍ [لهو او لعب] پرته کوم ژوند او يون نه پنځوي، که په هندارو، ګچ کاريو، چلڅراغونو او مرمرو سنګار شو، ايمان چې د مؤمنينو د زړونو زينت دی، داسې بربښي چې د ظاهري زينتونو تر وړانګو لاندې راغلی دی، که کوم بل څوک ياد شو او له خدايه خپلواک او مستقل د بل چا شفاعت او ولايت و منل شو، په داسې دين کې توحيد نور پر شرک بدل شوی دی.

«...وَلَكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ....» [حجرات ٧ (٤٩:٧)] ....خو الله تاسو ته ايمان محبوب [او خوږ] کړ او هغه يې ستاسو په زړونو کې سېنګار کړ [چې ايماني انګېزه پيدا کړئ]...

دا خبرې له دې سرچينه نيسي چې ذکر او قيامت د ديندارانو په زړه کې خپل ځای خدای هېرونې او دنيا پالنې ته ورکړي:

«الَّذِينَ اتَّخَذُوادِينَهُمْ لَهْوًاوَلَعِبًا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا...» [اعراف ٥١ (٧:٥١)] هاغو کسانو چې خپل دين يې لوبې او بوختيا ګڼلی (په جدّي او بنستيزه توګه يې ورته پاملرنه نه ده کړې) او د دونيا ژوند هغوی وغولول......

«وَذَرِ الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَهُمْ لَعِبًا وَلَهْوًا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَذَكِّرْ بِهِ أَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌ بِمَا كَسَبَتْ لَيْسَ لَهَا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ....» [انعام ٧٠ (٦:٧٠)] او هاغو کسانو چې خپل دين يې [له خرافي آدابو، مراسمو او تشريفاتو سره] د لوبو او بوختيا [او سا تېرۍ] په توګه نيولی دی او دنيوي ژوند غولولي دي، په خپل حال يې پرېږده، او په دې [سترګې غړوونکي قرآن]

ورته نصيحت وکړه، [داسې نه] چې څوک په خپلو [ناوړه] کړنو اخته شي چې [په آخرت کې] پرته له الله به مرستندوی او شفاعتګر نه وي .....

نو دا نتيجه اخېستل کېدی شي چې د «لهو» اصلي ډګر د دنيا ژوند دی چې د مال او اولاد، هيلو او ارزوګانو، بيع او تجارت او د پر شرک ککړ دين په موردونو کې څرګندېږي. په ځانګړې توګه په وروستي مورد «دين» کې چې ډېر لږ برېښي د «لهو»عامل اوسي، ډېر ټينګار [په مدينه کې د ايماني ټولنې د بنه نيونې په منځ کې] شوی دی، که په مکه کې د نضهت او اسلامي نظام په پيل کې له ايمانه، بې لارې کوونکی عامل مال او اولاد وو، په مدينه کې د نظام د استقرار پر مهال، له اصولو د انحراف او په تشريفاتو او ظواهرو د زړه خوشحالولو خطر شتون لري. لنډه دا چې، لکه څنګه چې مخکې مو ووېل، بيداري او وينتيا يوازې له علم سره شونې ده او يوازې د علم انذار او خبرتيا ده چې کولی شي موږ د غفلت له خوبه وينښ کړي. كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ. لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ.

ددې تشريح په پای کې الله ته پناه وروړو، پر هاغه څه له بوختېدو چې د هغه د رضا پر خلاف وي او موږ د حق له تګ ليکې کږوي؛ هغه ته پناه وروړو د خپل کار د پايلو له غفلته او له هاغه ابدي زيان او خسرانه چې په هغې پسې به راځي. له الله غواړو چې موږ سمې لارې ته، د حق لارې ته هدايت کړي او د خپلې لارې د وهلو او کچ کولو ځواک او قدرت، مينه او همت پر موږ ولوروي. صدق الله العليّ العظيم.

---

۷ ـ هاغه کسان چې په دنيا کې دا ډول ايمان او آګاهۍ ته رسېدلي وي پرته له شکه جهنم به له يقيني علم سره ويني. دا شناخت او شهود په بله دنيا کې له يقيني علمه نور پورته ځي او پراخيږي او اخوا ته ځي او عين اليقين ته به ورسيږي [ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ]. په قيامت کې ددغه راز علم حصول د ټولو لپاره دی، ځکه چې بينا کيږي «يُبَصَّرُونَهُمْ»[معارج ۱۱ (۷۰:۱۱)] او له راتلو او تېز بصيرت سره هاغه څه چې تر ې غافل ول، برېښنده او واضح ويني: « لَقَدْ كُنْتَ فِي غَفْلَةٍ مِنْ هَذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَاءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ » [ق۲۲(۵۰:۲۲)]. په هاغې ورځ کې جهنم د هاغه چا لپاره چې ويني ښکاره کيږي « وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِمَنْ يَرَى » [نازعات ۳۶ (۷۹:۳۶)]، او د هاغه څه په حاصل ورکولو چې په سينو کې دي « وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ » [عاديات ۱۰(۱۰۰:۱۰)]، هر څوک د خپلو کړنو د ليدلو لپاره رهي کيږي «يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ» [زلزال ۶ (۹۹:۶)].

د مولوي مثنوي [دريم دفتر ۴۱۲۰ ګڼه بيتونو څخه وروسته]، له دې آيتونو څخه په الهام، له ظنّ او ګومان تر عين اليقين پورې يې په څلورو پړاوونو کې، نظم کې راوړی دی:

هر گمان تشنه يقين است ای پسر | می زند اندر تزايد بال و پر
چون رسد در علم پس بر پا شود | مر يقين را علم او بُويا شود
زانک هست اندر طريق مُفتَتَن | علم کمتر از يقين و فوق ظن
علم جويای يقين باشد بدان | و آن يقين جويای ديدست و اعيان
اندر الهيکم بجو اين را کنون | از پس کلا پسٍ لو تعلمون
می کشد دانش به بينش ای عليم | گر يقين گشتی ببينندی جحيم
ديد زايد از يقين بی امتهال | آنچنانک از ظنّ می زايد خيال
اندر الهيکم بيانِ اين ببين | که شود علم اليقين عين اليقين

۸ ــ دا په دې لنډ سورت کې د «ثم» څلورم زماني عطف دی چې هر يو يې زموږ د دنيايي فعلي وضعيت سره د ليرې والي په ترتيب او واټن دی.

۹ ــ هاغه نعمتونه چې الله تعالی انسانانو ته عنايت کړي او لورولي دي بې شمېره دي، حضرت رسول اکرم په يو حديث کې: د عمر، مال، ځوانۍ او کار نعمتونو ته اشاره کړې ده يو له ډېرو مهمو نعمتونو چې بندګان د هغې په اړه پوښتل کېږي، همدا د شناخت درې ګوني وسيلې؛ سترګې غوږونه او فؤاد [عقل او احساس] دي: «وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا» [اسراء ۳۶ (۱۷:۳۶)].

---

**يادونه:** ددې تشريح د ليکلو پر مهال لاندينيو سرچينو ته هم مراجعه شوې ده:


۱ ــ نظم قرآن ـ د عبدالعلي بازرګان ليکنه
۲ ــ آشنايي با قرآن ــ د مرتضی مطهري ليکنه
۳ ــ في ظلال القرآن ــ د سيد قطب ليکنه
۴ ــ تفهيم القرآن ــ د سيد ابوالاعلی مودودي ليکنه
۵ ــ قرآن حکيم [ترجمه و توضيحات فارسي] ــ عبدالعلي بازرګان
۶ ــ الميزان في تفسيرالقرآن ــ د سيد محمدحسين طباطبائي ليکنه
۷ ــ کابلي تفسير [قرآن کريم ترجمه او تفسير ــ مولانا محمود الحسن ديوبندي
او علامه شبير احمد عثماني] پښتو کوونکي : د عالمانو يوه ډله
۸ ــ پرتوی از قرآن ــ د سيد محمود طالقاني ليکنه
۹ ــ تفسير نمونه ــ د آيت الله مکارم شيرازي او ورسره د علماو د پلاوي ليکنه
۱۰ ــ تفسير نور ــ د مصطفی خرمدل ليکنه
۱۱ ــ تابشي از قرآن ــ د سيد ابوالفضل ابن الرضا برقعي ليکنه

۱۲ ـ تفسير باران ـ د دکتور مهدي خُدّاميان آراني ليکنه

۱۲ ـ ترجمه تفسير طبري ـ د حبيب يغمائی په اهتمام او تصحيح

۱۳ ـ تفسير ابن کثير [حافظ عمادالدين ابوالفدا اسمعيل بن عمر ابن کثير الدمشقي]

اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناګړهي

۱۴ ـ معارف القرآن ـ د مولانا مفتي محمد شفيع ليکنه

۱۵ ـ تفسير مصباحين (اردو) ترجمه و شرح تفسير جلالين ـ ليکونکي : جلال الدين محلي او جلال الدين سيوطي ـ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لياقت علي رضوي

۱۶ ـ تفسير کمالين د جلالين تفسير اردو شرح د : مولانا محمد نعيم ديوبندی

۱۷ ـ د قرآن عظيم الشان پښتو ژباړه ـ مولوي قيام الدين کشاف

۱۸ ـ عزيزالتفاسير ـ د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير ـ مولوي سلطان عزيز (عزيز)

۱۹ ـ صفوةالتفاسير ـ د محمدعلي الصابوني ليکنه ـ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده

۲۰ ـ د قرآن پلوشې ـ د ګلب الدين حکمتيار لیکنه

۲۱ ـ تفسير دیوبندي ـ د مولوي عبدالحنان لیکنه

۲۲ ـ حکمة القرآن ـ د مولوي امين الله پېښاوری لیکنه

۲۳ ـ تفسير ايوبي حنفي ـ د مولانا محمد عبيدالله ايوبي لیکنه

۲۴ ـ تفسير احسن الکلام ـ د مولوي عبدالسلام رستمي ليکنه

۲۵ ـ قرآن کريم په پښتو ـ د اجرالدين اقبال ژباړه

۲۶ـ شرحي بر سوره های قرآن ـ عبدالعلي بازرګان ـ د عبدالعلي بازرګان ويب پاڼه [bazargan.com]

۲۷ ـ تفسير روح القرآن ـ مؤلف ډاکتر مولانا محمد اسلم صديقي.

۲۸ ـ د قرآن ټکی په ټکی او روانه ترجمه ـ مولوي جانباز سرفراز

۲۹ ـ روح المعاني فی تفسيرالقرآن العظيم والسبع المثانی ـ العلامه ابی الفضل شهاب الدين محمود الالوسی البغدادي

۳۰ ـ تفسير جواهرالقرآن ـ مولانا حسين علي

۳۱ ـ تفسير روح البيان ـ شيخ اسماعيل حقی البروسوی

۳۲ ـ «کنزالايمان او تفسير نورالعرفان» ترجمه احمد رضاخان بريلوي، تفسير احمد يارخان نعيمي

۳۳ ـ کشف الاسرار و عُدة الابرار ـ [د قرآنکريم ادبي او عرفاني تفسير] خواجه عبدالله انصاري

۳۴ ـ د قرآن رڼا [د قرآن پښتو معنا او لنډ تفسير] مولوی محمد ظاهر اسدالله مکي